# سوداګري

د سوداګرۍ وزارت اقتصادي، ټولنیزه، علمي او فرهنګي درې میاشتنۍ خپرونه

دوهم کال ۱۳۹۲ دوهمه ګڼه

## د افغانستان او قزاقستان

د حکومتونو تر منځ . . .

## چهارمین نشست اپتیکا

دایر گردید . . .

## د بریالي سودا ګر مهارتونه

نوي سوداګري دیره . . .

## بازار های اقتصادی افغانستان

برای تجارت داخلی . . .

بسم الله الرحمن الرحیم

## فهرست مطالب

سوداګري مجله پوازې د خپلې سرمقالې ننګه کوي نور لیکنې په لیکوال پورې اړه لري


په افغانستان کې د سودا ګرۍ . . . ۲

بر بازنگری پلان فعالیت سکتور . . . ۷

په سوداګرۍ کې د اعلان او لوګو . . . ۸

اهمیت ضروت حمایت از . . . ۱۳

د وریښمو نوې لار او د افغانستان . . . ۱۴

افغانستان و گام های برای خودکفایی . . . ۱۶

هنر او ادب . . . ۱۷



د افغانستان د تازه میوو . . . ۹




سیستم ترانزیت تیر . . . ۲۷




Silk Road Jewel . . . 39



صاحب امتیاز: وزارت تجارت و صنایع
مدیر مسؤول: حمیدالله عظیمی
هیئت تحریر: خارنوال نصیر احمد زاخیل، سباوون صادق
پست بکس: ۱۰۰۴
چاپ و دیزان: شرکت طباعتی شبیر

مجله (سوداگری) که ارگان نشراتی وزارت تجارت و صنایع افغانستان میباشد قدم است در راستای دسترسی مردم به اطلاعات و نهادینه شدن مفهوم واقعی دموکراسی.لذا از شما نویسندهگان، فرهنگیان، صاحب نظران و اندیشمندان خواهشمندیم تا با ارسال مطالب علمی، ادبی، اجتماعی و ذوقی خویش در غنامند سازی متحوای نشراتی مجله ما را همکاری نمایید.


د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د دارلامان سړک دریمه کارته، کابل افغانستان 0752 09 10 95 www.moci.gov.af moci.pr@gmail.com

# په افغانستان کې د سوداګرۍ پرمختګ ته ټمه په ډېرېدو ده



په تېرو دولس کلنو کې د هیواد د ژیوستراتیژیک او جیوپولیټیک موقیت په ګډون ګڼ شمېر نویو فرصتونو او ستونزو د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ په نوې بڼې او جوړښت کې رول لرلې دی

د افغانستان په بیلابیلو برخو کې د نړیوالې ټولنې بې سارې حضور، د طبیعې زېرمو پېژندنه او په ګټو سوداګریزو او اقتصادي معاملو کې د بهرنیو هیوادونو ګډون د افغانستان د پرمختګ لپاره ښه فرصتونونه رامنځ ته کړ.

همداراز د افغانستان د لویو لارو حلقوي سرک جوړېدنه، په سوداګرۍ کې د نویو قوانینو او مقرراتو تصویب و د بازار اقتصاد پېژندنه د افغانستان د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره یو بل فرصت ګڼل کېږي.

خو د دې ټولو سره سره یو شمېر خنډونو د یادو فرصتونو څخه د ګټه اخستنې او د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره ستونزه راولاړې کړي دي، د بېلګې په ډول افغانستان او د مرکزي اسیا و شمېر نور هیوادونه په وچې کې راچاپېر دي او د سوداګریزو اړیکو د پیاوړي کېدو په موخه د هند سمندر، د فارس او عمان خلیجونو ته لاس رسی ډېره اړینه ده.

که څه هم په تېره کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ په تجارتي او ترانیزټي برخې کې سیاسي ستونزې ډېرې وې، په ځانګړې توګه د (APTTA) سوداګریز او ترانزیټي تړون د پلي کېدو په هکله له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان وو خو له نیکه مرغه د سوداګرۍ او صنایعو وزارت چارواکو له پاکستاني سیالو سره د اپتیکا په نوم د کمپیوټري اطلاعاتو د تبادلې تړون لاسلیک کړ چې دغه اقدام به د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې ګڼ شمېر اسانتیاوې رامنځ ته کړي.

په دې وروستیو کې د افغانستان حکومت په هیواد کې دننه د پانګه اچونکو د هڅونې او د ۲۰۱۴ کال د احتمالي ګواښونو او اندېښنو د لرې کولو په موخه یوه نوې طرحه اعلان کړې چې له مخې یې پانګه اچوونکو ته په وړیا توګه ځمکه، اووه کاله د مالیاتي معافیت سربېره اوږدمهاله قرضې ورکول، د ګمرکي محصولاتو څخه معافیت او د اوږد مهاله تجارتي ویزو صادرول په کې شامل دي.

د دغې طرحې له مخې هغه پانګه وال چې تر راتلوونکو دوو کلنو پورې په افغانستان کې پانګونه وکړي له پورتنیو امتیازیاتو څخه برخمن کېږي چې په دې سره ګڼ پانګه وال پانګه اچونې ته چمتو شوي دي.

د افغانستان او قزاقستان د حکومتونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پروتوکول لاسلیک کېدل هم په زیاتو برخو کې د اسانتیاو او پرمختګونو زېرې ورکوي.

افغان چارواکي په دې باور دي چې له قزاقستان سره د دې پروتوکول په لاسلیکېدو سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د همکاریو او په افغانستان کې قزاقي کمپنیو ته د پانګونې زمینه هم مساعده کړي.

د افغانستان حکومت نه یوازې دا چې د پانګه اچونې لپاره زمینه برابره کړې بلکې د هیواد صادراتو ته یې هم ډېر پاملرنه کړې او سږ کال په لومړي ربع کې د تېر کال په پرتله د صادراتو کچه ۶۰ سلنه لوړه شوې ده.

د راټول شویو ارقامو په اساس د افغانستان د صادراتو کچه په ۱۳۹۱ کال کې ۶۴ ملیونو ډالرو رسېده خو د روان کال په لومړي ربع کې ۱۰۰ ملیونو ډالرو ته لوړه شوې.

د دې ټولو اقداماتو او پرمختګونو په ګډون په نړیوالو سازمانونو کې د غړیتوب د ترلاسه کولو وروسته به د افغانستان سوداګریزې او ترانزیتي ستونزې نورې هم هوارې شي.

افغانستان دمګرۍ د تیر (TIR ) نړیوال سازمان په ګډون په ګڼو سمیزو سازمانونو لکه سارک، ایکو، کریک هم غړیتوب لري او هڅه دا ده چې تر راتلوونکې کال پورې د نړیوال سوداګرۍ سازمان (WTO) غړیتوب هم ترلاسه کړي په داسې نړیوالو سازمانونو کې ګډون د افغانستان د بنسټیزو پرمختګونو لپاره زمینه برابروي، په اروپا کې د سوداګرۍ اسانتیاوې رامنځ ته او د سوداګرۍ او ترانزیټ نوې کړنلارو ته به په نړیواله کچه پرمختګ ورکړي.



# د افغانستان او قزاقستان د حکومتونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پروتوکول لاسلیک شو

د افغانستان او قزاقستان د حکومتونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو شپږمه دوه ورځنۍ غونډه د یوه پروتوکول په لاسلیک کولو سره پای ته ورسیده.

دغه غونډه چې د کابل په سرینا هوټل کې د دوو ورځو راپدې خوا د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت او د قزاقستان د بیرنو چارو د وزارت په مشرۍ په لاره اچول شوې وه لومړۍ ورځ (دوشنبه د وږي ۲۵) د دواړو لورو استازو په بیلابیلو برخو لکه سوداګرۍ، معادن، اقتصاد، معارف، فرهنګ، زراعت، نورم او ستندرد، ایسا او خصوصي سکتور په بیلابیل ګروپونو کې خبرې اترې وکړې او دوهمه ورځ (سه شنبه د وږي ۲۶ ) د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزیر جلالتماب دوکتور انوالحق احدي او د قزاقستان د بیرنو چارو وزیر جلالتماب ولادمیر باشکوف له خوا د پروتوکول په لاسلیک کولو سره پای ته ورسیده.

افغان چارواکي په دې باور دي چې له قزاقستان سره د دې تفاهم لیک په لاسلیکیدو سره به د دواړو هیوادونو ترمنځ په بیلابیلو برخو کې د همکاریو او په افغانستان کې قزاقي کمپنیو ته د پانګونې زمینه لا مساعده کړي.

د سوداګرۍ او صنایع وزیر جلالتماب دوکتورانورالحق احدي وویل چې: قزاقي کمپنۍ کولای شي د افغانستان په کانونو پانګونه وکړي

((موږ هیله لرو چې: دوي د افغانستان د کانونو د استخراج په برخه کې همداسې لیواله پاتې شي، دوی قوي کمپنۍ هم لري، دوی دلته د پانګونې علاقه لري، زموږ اړیکې لا ژورې او پراخې کیږي او دا افغانستان او قزاقستان ترمنځ د دوستۍ یوه ښه نښه ده.))

د دغه پروتوکول له مخې دواړه هیوادونه د ځمکني ترانسپورت، کانونو، کرنې او مالدارۍ، لوړو زده کړو، فرهنګي مسایلو او په بیرنیو چارو کې له یو بل سره همکاري کوي.

قزاقي چارواکو هم د یاد تفاهم لیک لاسلیک کیدل د دواړو هیوادونو د اړیکو لپاره ګټور وباله.

د قزاقستان د اضطراري چارو وزیر جلالتماب ولادیمیر باشکو په یاد غونډه کې وویل چې دا به د دواړو هیوادونو ترمنځ صادرات او واردات زیات کړي

((موږ د دواړو هیوادونو ترمنځ د لا زیاتو سوداګریزو اړیکو غوښتونکي یو او داډ ورکوو چې قزاقستان په دې برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

موږ په افغانستان کې د اقتصادي همکاریو د ډیرو طرحو په اړه خبرنې کوو.))

ښاغلي باشکو زیاته کړه، اوس دوي په دې اړه مطالعه کوي چې څنګه کولاي شي د افغانستان په کانونو پانګونه وکړي.

افغان چارواکي وایي چې: افغان دولت له قزاقستان سره ښې اړیکې لرلې دي او دې هیواد په اقتصادي، زیر بنایي او ترانسپورتي برخو کې ورسره همکاري کړې.

د افغانستان د سوداګرې او صنایعو وزارت د معلوماتو له مخې اوس مهال افغانستان له دې هیواده اوړه، ګاز او د ضرورت څینې نور مواد واردوي.



## په يادې غونډې کې د سوداګرۍ او صنايعو وزارت وړانديزونه:

### ۱ الف: د سوداګرۍ په هکله:

۱ د ويزې د صادرولو په برخه کې استثناوي په خانګړې توګه د ملټيپل يا ډبل انټري ويزو په هکله

۲ د افغانستان د تجاري اموالو لپاره د ټرانسپورټ نرخ راټيټول

۳ د افغانستان د مارکيټونو د اړتيا لپاره د نفتي موادو د ونډې څرګندول

۴ افغانستان ته د بلاعوض موادو ورکړه په خانګړې توګه د غنمو په برخه کې

۵ د سوداګرۍ او صنايعو وزارت کارکوونکو ته د سوداګرۍ او اقتصاد په برخه کې د ليسانس او ماسترۍ بورسونو ورکول.

### ۲ ب: د پوهنې په برخه کې:

۱ د زراعت او مالدارۍ ،ميخانيک او معدن په برخه کې د کثيرالرشتوي انستيتوت جوړول

۲ د پوهنې په برخه کې بيلابيلو څانګو ته بورسونه ورکول.

۳ د نيمه تحصيلاتو لپاره د بورسونو شمير له ۵۰ نه ۲۰۰ ته پورته کول.

۴ د تخنيکي استادانو د ظرفيت د لوړاوي په موخه همکاري.

### ۳ ج : د لوړو زده کړو په برخه کې:

۱ په بيلابيلو څانګو کې د ليسانس او ماسترۍ بورسونو د ورکړې همکاري.

۲ د دواړو هيوادونو ترمنځ په بيلابيلو برخو کې د علمي او اکاډميک اړيکو پياوړې کول.

۳ د هغو بورسونو اجرا کول چې پخوا ترې ګټه نه ده اخستل شوې.

### ۴ هـ: د ټرانسپورټ په برخه کې همکاري:

۱ د هوايي او ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې دوه اړخيز هوکړليکونو لاسليک کول.

۲ د قزاقستان د جاينټ وينچر شرکت له خوا د افغانستان د بارېرۍ تصدۍ فعالول.

۳ د روان کال تر پايه د هوايي خدماتو او ځمکني ټرانسپورټ خدماتو په برخه کې د هوکړه ليکونو لاسليک ،

همدارنګه د ګرځنې په ګډون د فرهنګ او توريزم ، بهرنيو چارو ، ملي سټندرډ، ګمرکي چارو او معدن برخو کې هم د همکارۍ وړانديزونه شوي دي.





# چهارمین

## نشست کمیته اپتیکا به منظور حل مشکلات تجاری و ترانزیتی تاجران افغانستان و پاکستان درکابل برگزارشد.



این نشست دو روزه که از سوی وزارت تجارت و صنایع افغانستان در کابل دایر گردیده پس از بحث های مهم با امضا قراردادی به منظور تبادل اطلاعات کامپیوتری بین دو کشور خاتمه یافت.

روز دو شنبه مورخ ۱۶ میزان مقامات وزارت تجارت و صنایع افغانستان ، هیئت وزارت تجارت و ترانزیت پاکستان و نمایندگان اتاق تجارت بر مشکلات ترانزیتی تاجران افغان و پاکستانی بحث وگفتگو نموده ، راه کارهایی ارایه شد و روز سه شنبه مورخ ۱۷ میزان قراردادی به منظور تبادل اطلاعات کامپیوتری بین دو کشوربه امضا رسید.

گفتنی است که کمیته اپتیکا به منظور حل تمام مشکلات قرارداد "اپتا" بین دو کشور به وجود آمده است.

جلالتماب مزمل شینواری معین امور تجاری وزارت تجارت و صنایع کشور، بعد از نشست این کمیته در مورد دستاوردهای این دور مذاکرات گفت (( کمیته اپتیکا صلاحیت دارد تا در همه مشکلات ترانزیتی بین دو کشور راه حل ارایه کرده و اجرا کند))

جناب مزمل شینواری افزود بر اساس قرارداد تبادله اطلاعات کامپیوتری که امروز به امضا رسید سیستمی راه اندازی می شود که دو کشور از تمام مراحل انتقال کالا به صورت آنلاین مطلع می شود.

طبق قرارداد اپتا باید سهولت‌هایی برای تاجران افغانستان و پاکستان برای ترانزیت کالاهایشان به میان می‌آمد؛ دسترسی آسان به بازارهای جهان، عدم توقف‌های بی‌مورد در نقاط عبور و ترانزیت، عدم موجودیت تعرفه های گمرکی بالای اموال ترانزیتی، سند اجازه دخول مؤقت برای موترها و راننده گان، به رسمیت شناختن جواز رانندگی، جواز موتر و اسناد بررسی، حذف هزینه‌های اضافی ترانزیتی باید ایجاد می‌شد؛ اما تاجران افغان از متوقف شدن اموال تجاری‌شان در پاکستان و عدم صدور اجازه حرکت از سوی این کشور همواره شاکی بوده اند.نقطه مهمی که در موافقت‌نامه ترانزیتی اپتا از سوی دولت افغانستان بر آن تاکید بیش‌تر شده بود انتقال تمامی اموال تاجران افغان توسط شرکت‌های ترانسپورتی افغانی به بندر واگه بود، که تاکنون پاکستان این اجازه را به تاجران نمی داد و تمام اموال تجارتی از طریق شرکت‌های ترانسپورتی پاکستانی حمل و نقل می‌شد که مصارف بیش‌تری را در بر می‌گرفت.

قراردادی تجاری ــ ترانزیتی به نام اپتا در سال ۱۹۶۵ میان افغانستان و پاکستان امضا شد که در آن زمان شاید مشکلات تاجران را تا حدودی مرفوع می‌ساخت اما نزدیک به سال پیش این معاهده با مفادی جدید دوباره میان دو کشور به امضا رسید.
گفتنی است که با اجرای موافقت‌نامه اپتا، موترهای افغانی می‌توانند از طریق خاک پاکستان اموال‌شان را به بندر سوست چین، واگه هندوستان، بنادر آبی قاسم، گوادر و کراچی به کشورهای دیگر جهان انتقال دهند و پاکستان می‌تواند از طریق افغانستان به بازارهای آسیای میانه و ایران دسترسی یابد که به تبع آن، فرصت‌های کاری و تجارت در پاکستان افزایش می‌یابد.

# د بریالي سوداګر مهارتونه

ضیاءالرحمن ضیاء



نوې سوداګري ډېره پېچلې او مغلقه ده، په ډېره بېړه د نوې ټکنالوژۍ او علمي پرمختګ خواته روانه ده. په دې نوي عصر کې که څوک وغواړي تجارت پیل کړي، دغه لاندې مهارتونه باید ولري، بې له دغو مهارتونو کېدای شي تجارت یې ښه وده ونه کړي او یا له زیان سره مخامخ شي.

۱ خپل تجارت لپاره د پلان جوړونې وړتیا ولري: که یو سوداګر غواړي چې سوداګري یې پرمختګ وکړي، نو د پلان جوړونې او د ښه تنظیمولو وړتیا ولري.

۲ فعال وي: بریالی سوداګر باید خپله هم فعال وي او کارکوونکي یې هم فعال او چالاک وي، چې د سوداګرۍ پر پرمختګ کې ډېره مرسته کولای شي.

۳ زړور وي: زړورتوب د سوداګرۍ لپاره یوه ښه سرمایه ده. که چېرې یو سوداګر په پرېکړو کې زړه نا زړه شي، دا به د سوداګرۍ د راتلونکي لپاره په تاوان تمامه شي.

٤ مرسته کوونکی او کوپراتیف ولري: له خپلو کارکوونکو سره مرسته وکړي او د هغوی لپاره یو کوپراتیف جوړ کړي، چې د دغو کارونو په مرسته خپل تجارت ښه پرمخ بوځي.

٥ خواخوږی وي: خواخوږي د تجارت لپاره داسې ده لکه د یو ماشین لپاره چې تېل وي. خواخوږي لګښت نه لري، خو اعتبار او نوم لري، تجار باید د خپل ښه خوی په واسطه د خپلو کارکوونکو زړونه راخپل کړي.

٦ تصمیم نیوونکی وي: یو تجار باید عاجل تصمیم نیوونکی وي او پر دې هم پوه شي چې ژر تصمیم نیونه زما د تجارت لپاره ګټوره ده.

۷ ډیسپلین او نظم ولري: کله چې د یو شرکت رئیس یا مشر ډیسپلین ونه لري، نور کارکوونکي هم ډیسپلین نه مراعتوي، چې دا کار د سوداګرۍ د پرمختګ مخه نیسي.

۸ ارزښت ټاکوونکی وي: تجار باید خپل ځان وارزوي چې څنګه خپل کارونه پر مخ بیایي، دا کار به د سوداګرۍ د راتلونکي پرمختګ لپاره ګټور تمام شي.

۹ اټکل کوونکی او محتاط واوسي: سوداګر باید د اټکل یا وړاندوینې مهارت ولري، چې په راتلونکي کې خپلو مشتریانو لپاره څه ډول شیان تولید کړي او د هغوی غوښتنې به څه وي. یا په بله مانا چې په راتلونکي کې به زما تولیدات څه ډول وي.

۱۰ صادق او امانتګار وي: تجار باید له نورو سره په معاملاتو کې صادق وي، ځکه چې صداقت له سوداګرۍ سره مرسته کوي.

۱۱ ډېر او سخت کارونه وکړي: کله چې په یوه شرکت یا تجارت کې مشر ډېر او سخت کار ونه کړي، نو کارکوونکي هم همامغسې عادت اخلي او سخت کارونه نه کوي، چې په دې ډول تجارت پرمختګ نه شي کولای.

۱۲ نوښتګر وي: که نړیوال تجارت ته پام وکړو، په ډېرې چټکۍ سره پرمخ روان دی، کېدای شي یو علت یې دا هم وي چې په خپلو تولیداتو او محصولاتو کې نوښت منځته راوړي، تجار باید په خپلو محصولاتو او خدماتو کې د نوښت مهارت ولري او د بازار موندنې نوي میتودونه په کار واچوي.

۱۳ علمي وي: یو ښه تجار باید د خپل تجارت په اړه بوره پوهه ولري، لکه د مالي چارو، بازارموندنې، ټکس او نورو په اړه.




# بربازنگری پلان فعالیت سکتور قالین بحث صورت گرفت

در نشست که سه شنبه مورخ ۱۶ میزان با اشتراک موسسات بین المللی و ملی مانند ABADE، یو ایس ای ای دی، USAID ،EPAA ،FAIDA، GIZ، اداره حمایه سرمایه گذاری افغانستان یا ایسا، اداره ملی ستندرد، اتاق تجارت و سایر ارگان ها در یکی از هوتل های کابل برگزارشد بر پلان فعالیت سکتور قالین درجریان سالهای ۲۰۱۳ تا ۲۰۱۶ میلادی بحث صورت گرفت.

درین نشست جلالتماب انجنیر متصل کومکی معین وزارت تجارت وصنایع گفت که صنعت قالین درکشور با چالش ها مواجه است ولازم است تا پلان فعالیت سکتور قالین برای سالهای ۲۰۱۳ تا ۲۰۱۶ میلادی ترتیب وشرایط رقابت دراین بخش ایجاد گردد.

جناب معین افزود فعلا بیش از هشتاد فیصد قالین کشور برای شست وشو بیرون از کشور فرستاده می شود جناب کومکی از سکتور خصوصی خواست تا نظر ودیدگاه شان را غرض فایق شدن براین مشکل ارائه بدارند ومسوولان این نظریات راجمع بندی تا از آن در بهبود امور استفاده شود.

درین نشست خیر محمد نیرو نماینده وزارت کار و امور اجتماعی نیز گفت برای شناسایی این صنعت یک سروی را در کابل ، جلال اباد ، هرات و مزارشریف به راه انداخته و سپس ارقام بدست امده نشان میدهد که هشت ستندرد شغلی را ایجاد نموده اند.

همچنان جناب احمد ضیا سید خیلی رئیس تنظیم وانکشاف امور تشبثات کوچک ومتوسط ضمن آنکه پارهٔ از مشکلات که صنعت کاران قالین با آن مواجه اند بیان داشت او از وزارت امور داخله خواست تا درقسمت واپس گیری ساحات که به عنوان شهرک قالین بافان اختصاص یافته، اقدام نماید تا صنعت کاران قالین ساحه کار وفعالیت خود را پیدا نمایند.

رئیس تنظیم وانکشاف امور تشبثات کوچک ومتوسط افزود این پلان فعالیت اولویت ها و فعالیت های اساسی راکه به نظر شرکاء برای تحریک کردن پروسه انکشاف این سکتور به انها نیاز است جمع بندی و لست مینماید.

در این نشست شماری از مسوولان و صنعت کاران قالین صحبت کرده دیدگاه و نظرشان را غرض بهبود صنعت قالین و گسترش صادرات آن بیان داشتند.

هدف از ایجاد پلان فعالیت سکتور قالین آماده کردن یک نقشهٔ راه به منظور ایجاد تسهیلات برای رشد صنعت قالین و زمینه سازی برای صادرات آن با مارک افغانی است.

در حال حاضر بخش اعظم از قالین افغانی ازطریق پاکستان و با مارک آن کشور صادر میشود که عاید آن به تجار پاکستانی برمیگردد. این نشست در حالی برگزار میشود که رقم صادرات افغانی به بیرون از کشور درجریان چندسال اخیر به پایین ترسطح آن رسیده وهرگاه غرض مقابله به این مشکل تدابیر اتخاذ نشود امکان سقوط صادرات قالین بعید خواهد بود .



لیکنه: سباوون صادق

# په سوداګرۍ کې د اعلان او لوګو ارزښت



لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده چې د نړۍ د پرمختللو هېوادونو د سوداګرۍ، کچه ورځ په ورځ لوړېږي، اقتصاد یې پیاوړي او خلک یې د ټولنیز ژوند له اړخه د اقتصاد په لوړه کچه کې ژوند کوي. دا ټول پرمختګونه ډېر لاملونه لري خو یو لامل چې سوداګرۍ ته یې وده ورکړې، هغه د تولیداتو او محصولاتو د ودې لپاره د بېلابېلو اعلانونو جوړول او وروسته بیا د چاپي او الکترونیکي رسنیو، بیلبوردونو او ټولنیزو شبکو له لارې د هغوی خپرول دي چې دغه کار د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره ډېر مهم عنصر بلل شوی.

خو د دې لپاره چې یوه شو تجارتي اعلان څه ته وایي او څه اغېز پر مصرف کوونکو لري، لومړی باید اعلان وپېژنو.

اعلان: د یوې مهمې او ارزښت لرونکې ټولنیزې او اقتصادي توکي د پېژندنې په موخه خلکو ته پوهاوی ورکول دي، یا په بل ډول د یوه شرکت یا سازمان یا اداري له خوا د تولید شویو توکو ، محصولاتو او یا خدماتو په هکله خلکو ته پیغام رسول او له دوی سره د اړیکو ټینګولو ته اعلان وايي.

نن ورځ په سوداګرۍ کې د نړۍ ستري کمپنۍ د تولید شویو توکو د خرڅلا او بازارموندنې په موخه بېلابېل او په زره یوري اعلانونه جوړوي او په ملیونونو ډالر مصرفوي ترڅو خلک د دوی توکي رانیسي، په ۲۰۰۷ کال کې په امریکا کې د اعلانونو ټول لګښت ۱۵۰ ملیارده ډالره راغلي وو خو په ټوله نړۍ کې بیا دغه مصرف ۳۸۵ ملیارده ډالرو ته رسیده. او دمګړی داسې اټکل دی چې په دوه زره خوارلسم کال کې به په ټوله نړۍ کې د اعلانونو پر جوړولو ۵۵۰ ملیارده ډالره مصرف راشي.

که یوه پوښتنه وشي چې په لاندنیو موبایلونو کې مو کوم موبایل خوښ دی او ولې؟

۱ سیاس ۲ نوکیا ۳ سامسونګ ۴ موټورولا

ایا کله موهم د سیاس په نامه موبایل اورېدلي، که چېرې هیڅ وخت مو دا ډول نوم او لوګو نه وي اورېدلي نو کولای شئ چې دغه نوی موبایل د نوکیا او یا هم سامسونګ پرځای واخلئ، ستاسو خواب روښانه دی چې داسې کار نه کوئ څکه چې نوکیا او سامسونګ هغه کمپنۍ دي چې د ډېر پخوا نه تولید کوي او ملیونونه ډالر یې مصرف کړي ترڅو د اعلان په مټ د خلکو په ذهنونو کې خپل نوم او لوګو یا اعتباره وساتي. پورته مو د لوګو یادونه وکړه، ډېری تلویزیوني اعلانونه د لوګو یا مشخص مارک څخه کار اخلي، شرکتونه ، سازمانونونه او نړیوالې اداري د توکو ،تولیداتو ، محصولاتو او خپلو خدماتو د ښه معرفت او د سوداګرۍ د ودې په موخه ځان ته یوه مخصوصه لوګو یا مارک جوړوي.

نن ورځ په نړۍ کې په ملیونونو لوګوي جوړې شوي خو په دغه ټولو لوګو یا تجارتي علامو کې یو شمېر یې د خلکو په ذهن کې ځان ته ځای جوړ کړي دي.

لوګو یا تجارتي علامه داسې ډیزاینېږي چې بیا هغه په هر هېواد کې په اسانۍ سره وپېژندل شي همدغه لامل دی چې سوداګریزه لوګو په ښکلي انداز او په لوړ کیفیت کې جوړېږي د بېلګې په ډول د سره سلیب لوګو پرته له دې چې لیکنه او یا نوم ورسره وي د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پېژندل کېږي ،همدارنګه د کوکاکولا مخصوصه لوګو د افغانستان په ګډون په ټوله نړۍ کې پېژندل شوی لوګو دی. خوپوښتنه دا ده چې ولې شرکتونه هڅه کوي، داسې لوګو یا تجارتي مارک ډیزاین کړي چې په ټوله نړۍ کې شهرت پیدا کړي؟ څکه لوګو د خپل محبوبیت، ښکلا او جلاتوب له امله په خلکو کې د شرکت نوم او محصولاتو ته ارزښت ورښې. د پورته څرګندونو څخه وروسته دې پایلې ته رسیږو چې لوګو یا تجارتي علامه د سوداګرۍ په کامیابۍ او ودې کې ستر رول لري حتی په سوداګرۍ کې د یولې واحد په څېر ارزښت لري، د تولیداتو پرخرڅلاوو مستقیم اغېز لري. د انټر براند سازمان د راپور له مخې د کوکاکولا شرکت لوګو په ۲۰۰۹ کال کې د نړۍ تر ټولو با اهمیته او ارزښت لرونکي مارک په ښه یاده کړی او زیاتوي چې دغه کوکاکولا شرکت د خپلې لوګو په مټ په ۲۰۰۹ کال کې ۶۸۷۳۴ ملیارد ډالره ګټه ترلاسه کړی. نو له دې امله ویلای شو چې لوګو د یوه سیاسي سازمان، شرکت او اداري لپاره د تبلیغاتو مهم عنصر دی او اعلان بیا د سوداګرۍ د پرمختګ لپاره تر ټولو اغېزمنه وسیله ده.



## ۴۰ سلنه لوړ شوی دی



# د افغانستان د تازه میوو صادرات

د سوداګرۍ او صنایعو وزیر جلالتماب دوکتور انوارالحق احدي د افغانستان د صادراتو د ۴۰ سلنه لوړیدو په هکله رسنیو ته معلومات ورکړل

په هغې غونډه کې چې د شنبې په ورځ د ۱۳۹۲ کال د زمري په ۱۲ د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د کنفرانس خونو په تالار کې جوړه شوې وه د کال په لومړي ربع کې د تیر کال په پرتله د صادراتو کچه ۴۰ سلنه لوړه شوې ده.

د راټول شویو ارقامو په اساس د افغانستان د صادراتو کچه په ۱۳۹۱ کال کې ۶۴ ملیونو ډالرو رسیده خو د روان کال په لومړي ربع کې ۱۰۰ ملیونو ډالرو ته رسیږي.

هغه فکتورونه او لاملونه چې د صادراتو په لوړاوي کې مهم بلل کیږي

- د طبیعي آفاتو کمښت د تازه میوو په حاصلاتو کې زیاتوالي راوستی
- په ترانزیتي او ګمرکاتو کې د ستونزو کموالی.
- د صادراتو د پراختیایی اداري سره د Roots of Peace او TAFA اداري همکاري
- د بازار موندني او تندارتونو د جوړولو په برخه کې د صادراتو د پراختیایی اداري هڅې

همدارنګ جلالتماب وزیر صیب په ایتالیا کې د افغاني تولیداتو د نندارتون د جوړیدو په موخه د یوملیون ډالرو مرستي یادونه وکړه او په فرانسې کې د لومړي ځل لپاره د ۵ افغاني شرکتونو د لاسي صنایعو د ورالدي ګولو موضوع هم یاده کړه.

او د لوستي معلوماتو له مخې په لومړي ځل افغان سوداګرد اروپا بازار ته د اروپایي مارکیټونو په معیار او ستندرد خپلو تولیداتو ته د بازار موندني په موخه تللي او ګډون یې کړی

د تیر یو کال په لړ کې دافغانستان دصادراتو پراختیا اداری او هالند حکومت په مرسته دوی ته په بازار موندنه کې ترینګ، معیار د تولید، دیزاین، پانګه اچونه، او د اروپا د سوداګرۍ د تریوال قوانینونو په هکله معلومات ورکړل شوي دي.

وروستي راپورونه وایي چې ۶ افغاني شرکتونه په فرانسې کې د اروپا تر ټولو ستر نندارتون کې د لاسي صنایعو او غالیو نندارتون پرانیسته او د دوو یو المان او یو هم امریکایي شرکتونو سره د دوی ترمنځ یو ستر ترون هم امضا شي







## د سوداګرۍ جواز د ترلاسه کولو په پروسې کې اسانتیا رامنځ ته شوه

په هغه کنفرانس کې چې د یکشنبې په ورځ (چنګاښ په ۱۶) د کابل په انترکانتیننتل هوټل کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت ، د حرکت او آی ایف سي موسسې له خوا په لاره اچول شوی وه په افغانستان کې د سوداګرۍ جواز د ترلاسه کولو په موخه د رامنځ ته شویو اصلاحاتو او اسانتیاو په هکله معلومات ورکړل شو.
د سوداګرۍ او صنایعو وزیر جلالتماب انورالحق احدي وویل چې د وزارت هڅه دا ده څو د خصوصي سکتور لپاره په هره برخه کې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.
جلالتماب انوارالحق احدی وویل د تجارتي جواز د اخیستلو بهیر له یوې میاشتې دوو ورځو ته را ټیټ شوی دی
ښاغلي احدي زیاته کړه د هغو اصلاحاتو له مخې چې د تجارتي جواز د تمدید او اخیستلو په بهیر کې راغلي، سوداګر کولای شي په لږ وخت او لږ لګښت سره جواز ترلاسه کړي.
همدارز د سوداګرۍ او صنایعو وزارت چارواکو وویل چې د تجارتي جواز لیکونو د اعتبار وخت له یوه کاله دریو کلونو ته لوړ شوی دی.
د سوداګریز جواز په بهیر کې د اصلاحاتو د پروګرام له مخې چې د حرکت داداري او نړیوال بانک له خوا په دوو کلونو کې پلي شوی دی؛ سوداګر کولای شي په آسانۍ سره جواز واخلي.
د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د سوداګریزو چارو مرستیال ښاغلي مزمل شینواري په دې هکله داسې وویل «موږ د سوداګریزو جوازونو په اخیستلو او تمدیدولو کې د آسانتیاوو په رامنځته کولو سره هغه ستونزې له مخې لرې کړې چې پخوا سوداګر ورسره مخ و، موږ د لاسلیکونو کچه له اتلسو څخه لسو ته راټیټه کړه، که چیرې هغه وغواړي یو سوداګریز جواز د څو ساعتونو په موده کې تمدید کېدلای شي.»
اخوا د سوداګرۍ او صنایعو وزارت وایي هڅه کوي چې په یوویشتو ولایتونو کې د کمپیوټري جوازونو د ویشلو سیستم پلي شي او دغه راز تر یوه راتلونکي کال پورې به افغان سوداګر له هېواد څخه بهر وکړای شي له دغه سستم څخه په ګټې اخیستنې د افغانستان د سوداګرۍ په استازولۍ کې دخپلو جوازونو موده وغزوي

# نقش و فعالیت ریاست استراتیژی، پالیسی و پلان در چوکات وزارت تجارت

وزارت تجارت و صنایع بحیث یک وزارت پالیسی ساز سکتور خصوصی در چوکات دولت جمهوری اسلامی افغانستان بدین باور است که با ترویج اقتصاد بازار، حفظ شرایط مناسب برای تشبث، بهبود رقابت بین المللی و تعویض واردات با تولیدات داخلی میتوان در زندگی مردم تغیرات مثبت وارد نموده و افغانستان را بسوی ترقی و خودکفایی سوق داد.
با در نظرداشت رول پالیسی ساز این وزارت در اقتصاد بازار که دیری نمیگذرد در افغانستان معرفی و ترویج میگردد، ریاست استراتیژی، پالیسی و پلان در سال ۱۳۹۰ در چوکات تشکیل وزارت تجارت و صنایع تأسیس گردید. در این راستا ریاست استراتیژی، پالیسی و پلان وظیفه دارد تا برای پیشبرد هرچه بهتر امور، وزارت تجارت و صنایع دارای مؤثر ترین پالیسی های تجارت و صنایع بوده، پلان های استراتیژیک و کاری وزارت در موجودیت یک سیتم گزارش دهی بالوقت موجب حکومت داری خوب و بلآخره فکتورهای فوق الذکر باعث مصرف عادلانه بودجه در راستایی تطبیق برنامه های این وزارت گردد.
چنانچه در دنیائی پیشرفته امروزی ضرورت به مدیریت خوب یک امر انکار ناپزیراست و بنابر نبود یک میکانیزم واقعی نظارت و ارزیابی برنامه ها به موقع انجام نگردیده و باعث عدم مصرف بودجه میگردد.
در حقیقت حمایت از اهداف هفتگانه استراتیژیک وزارت تجارت و صنایع و تسهیل راه حل ها برای رسیدن به این اهداف که در پلان استراتیژیک وزارت تجارت و صنایع تصریح گردیده است مسؤلیت عمده و اصلی این ریاست را تشکیل میدهد. ارائیه مشوره های سودمند و مسلکی در طرح پروژه های انکشافی، نظارت و مراقبت از طرح پلان های انکشافی و ارزیابی مؤثریت و کارائی پروژها با در نظرداشت منفعت اقتصادی و اجتماعی آن همه از جمله فعالیت های عمده این ریاست میباشد.
خوشبختانه بعد از تقرر رئیس جدید این اداره از طریق کمیسیون اصلاحات اداری (CBR) در کمترین مدت تغیرات مثبت وچشمگیر درعرصه انکشاف پالیسی و پلان، ترتیب اسناد استراتیژیکی و تأمین روابط با تمویل کننده گان نمایان گردیده است. به همین ترتیب بمنظور شناسایی وتمجید مشارکت مراجع ذیدخل ـ بحیث مهمترین فکتور در روند پالیسی سازی ـ ریاست استراتیژی، پالیسی و پلان جهت طرح و انکشاف پالیسی های مؤثر چندین ورکشاپ بین الریاستی را تدویر نمود، که در نتیجه هر ریاست نماینده مسلکی خویش را جهت مشارکت در امور پالیسی سازی معرفی و این سلسله هنوز هم دوام دارد.
در رابطه به حصول اطمینان از تطبیق برنامه های انکشافی یک فارمت مشخص گزارش دهی که در برگیرنده اهداف، فعالیت های کلیدی، و نتایج متوقعه میباشد طرح و به تمام ریاست های مربوطه رسماً توضیح گردیده است. در این فارمت اهداف هر ریاست در مطابقت به اهداف برگزیده استراتیژیک وزارت تعین گردیده و مامورین محترم میتوانند برای جلوگیر از ضیاع وقت گزارشات شانرا ازطریق ایمل در اسرع وقت به این ریاست ارسال دارند.
جهت بلند بردن ارتقأ ظرفیت که یک مشکل عمده در سطح کشور میباشد و برای فراهم نمودن وسایل و سیستم های جدید مدیریت بعد از تحلیل نکات قوت، ضعف، فرصتها و تهدیدات این ریاست چندین پروپوزل را با یک تعداد از مؤسسات تمویل کننده شریک شاخته و بلآخر برای پیشبرد هرچه بهتر امور ریاست مذکور باور دارد که تنها با استخدام اشخاص مسلکی و مجرب و نسل جوان در موجودیت سیستم های جدید مدیریتی میتوان خدمات را به استندرد های بین المللی ارئه نمود و در معاملات سریع جهانی همدم وهمقدم بود.



ترتیب کننده: ولید حلیمی مشاور پالیسی و حکومت داری

# عامه اړیکې دیوې ادارې اړتیا ده


لیکوال: نصیراحمد (زاخیل)

## مقدمه

دا چې الله جل جلاله انسان یو ارتباطي موجود پیدا کړی په دې سبب نن دانسان دهڅو او پراخه اړیکو په سبب نړۍ دیو کلي حیثیت غوره کړی او دا اړیکې لا دپراختیا په حال کې دي.په نړۍ کې دنني عصري ژوند تغیرات او پرمختګ دسازمانونو داطلاعاتو او ارتباطاتوڅخه پرته امکان نه لري بلکې همدغه هرارخیزه ارتباطات دي چې په دیرو وروسته پاتې او حتی پرمختللیو هیوادونوکې دپراخه اقتصادي ،سیاسي او اجتماعي بدلونونو اوقدمونو سبب وګرځیده. په منځنیو پیړیو کې اروپایانو داسلامي ممالکو سره دپراخه اړیکوله کبله علوم او فنون زده او په خپلو هیوادونو کې یې هغه علم او فن ته چې داسلامي نړۍ څخه ترلاسه کړی و انکشاف ورکړ او خپل هیوادونه یې دهمدغو اړیکو په اساس اقتصادي او سیاسي ثبات ته ورسول نن ورځ هیڅ هیواد نشي کولای چې د نورو هیوادونو سره پرته خپلې تولې غوښتنې او اړتیاوې پوره کړي په همدې سبب نني عصري نړۍ له بېدون دانوم اوکمپیوټر دعصر څخه داړیکو عصر هم ویل کېږي.

مونږ به په دې لنډه لیکنه کې دعمومي اړیکو پر پیژندنه ، اهمیت ،اړتیا ،او دولونو باندې په لنډ دول بحث وکړو.

تعریف : عامه اړیکې بېلابېل تعریفونه لري چې په لنډه جمله او نسبتاً مفهوم ته نژدې تعریف یې په دې دول دی: دیوې موسسې یا سازمان دتولو خواوو هینداره عامه اړیکې بلل کېږي.

یا هم دعامه اړیکو دمهمو مسئولیتونو او دندو څخه دیو سازمان او اداري دواقعي فعالیتونو او کړنو بیودل خپرول او وراندې کول دي تولني او هغو نهادونو ته چې په یو دول دهغې سازمان سره اړیکه لري.

په بل عبارت عامه اړیکې دیوې موسسې یا اداري دواقعي اطلاعاتو ابلاغ کولو څخه اروندونستونو ته او دهغوی دنظریاتو ترلاسه کولو دتفاهم څخه عبارت دي.

په نړۍ کې دعامه اړیکو تاریخچه

دعامه اړیکو (Public Relation) اصطلاح دلومړي ځل لپاره په ۱۸۹۷ م کال کې دامریکا متحده ایالاتو دلوسیني دګرښي داتحادیې په کلنی راپورکې استعمال شوه. سره له دې چې دیخوا زمانو څخه شاهانو،دعامه اړیکو له خپلو روشونو او تکنیکونو څخه کته اخستله اما دعامه اړیکو بدلون اوتحول په عصري او نني دول په امریکا کې دعامه اړیکو دواحدونو او دفاترو دتاسیس څخه وروسته شروع شوی. د دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته لوهم دهغه د پرلپر دله منځه ورلو او په عامي دول دحالاتو ،سازمانونو او سیاسي ،اقتصادي او اجتماعي ساحو کې دوضعیت د نسبي استحکام څخه وروسته سازمانونو او ادارااتو خپلې ارتباطي چارې په نوې بڼه له سره پیل کړې. همدارنګه د ۱۸ او ۱۹ قرن داقتصادي او اجتماعي تحولاتو او بدلونونو په پایله کې رسنیو او اړیکو تکامل او پرمختګ وکړ.

د ۱۹می پیړۍ په لېمایي کې دغربي هیوادونو صنعتي پراخوالي دلګرو په ټولنیز ژوند کې دېربدلونونه رامنځته کړل رسنیو،واقعي داطلاع رسولو وسیله نه بلکې دټولنیزو اړیکو یو مهم فکتور وګنل شو برخو خواره واره وګړي خپرولو دهغوی ترمینځ اړیکې رامینځته کړې.څکه چې دوګړو نظریاتو او افکارو ته نه پاملرنه او بې ارزښته ګڼل دیرو اقتصادي تښتونو دسقوط سبب وګرځیدل. په همدې دلیل پوه مدیران

د۱۹می پیړۍ په وروستیو کې دعامه اړیکو د دفترونویه رامنځته کولو اخته شول او دموسساتو او خلکو ترمنځ د نظریاتو داخستلو په سبب یې دهغوی پاملرنه خانته راواړوله.

د۲۰ می پیړۍ په پیل کې دعامه اړیکو دفترونه دمتحده ایالاتو په هیوادونو کې رامنځته شول په ۱۹۰۶ م کال کې لومړنی خصوصي شرکت چې خپلو مشتریانو ته یې د عامه اړیکو خدمتونه وړاندې کړل د( ای وی لي ) په نوم دنیویارک د یو اقتصادي خبریال لخوا رامنځته شو چې وروسته ای وی لي دعامه اړیکو دپلار په توګه وپیژندل شو .

دعامه اړیکو ارزښت :داړیکو ددفترونو ارزښت دلاندې دندو لپاره مهم دی.

۱- دموئرو اړیکو دټینګولو او په کاري چاپېریال کې دمنولرو دهواری لپاره.

۲- اړیکې یو دول روش دی چې دهغې پر بنسټ پلان،اداره، رهبري او کنترول په ښه دول ترسره کېدای شي، چې دموئرو اړیکو پربنسټ په پوره باور شویو دندو کې د ستونزو دله منځه وړلو سبب ګرځي.

۳- همدارنګه د اړیکو په مرسته یو سازمان خپلې تولې چارې همغږي کوي او دوخت په تناسب کې ورڅخه کته اخلي.

۴- د اړیکو په مرسته یو شخص کولی شي د سازمان په داخل او یا بهر کې د اړیکو او پیغامونو په تبادله کولو سره په پراخه کچه کته ترلاسه کړي.

### دعامه اړیکو ددفترونو دفعالیتونو محتوا:

۱- د اړیکو ابلاغ: دعامه اړیکو دموجودیت فلسفه داطلاعاتو او خبرونو خپرول دي چې د بېلابېلو رسنیو له لارې باید بیدون له ځنډ څخه کار کوونکو او اروندوکسانو ته خپلې خبروني وراندې کړي.

۲- دحقایقو اعلان . دعامه اړیکو بنسټ باید په حقیقت ولاړوي، څکه دعامه اړیکو له تعریف څخه معلومیږي چې دحقیقت څرګندونه کوي،نو ویلای شو چې دیو سازمان د تولو خواوو هینداره عامه اړیکې دي، یا د مو اړیکو د ټینګولو لپاره د اروندو کسانو د نظریاتو د لاسته راوړلو په موخه د موسسې د حقیقي او واقعي اطلاعاتو د خپرولو څخه عبارت دي.

۳- دخپرونکي چینل ټاکنه: دپیغام دبرابرولو لپاره دپوستر، عکس، فلم،لیک،اطلاعیه او کنفرانس او مجامع ویناوو له لارې او دهغو دخپرولو او لیږلو لپاره دورځپاڼې، اخبار، مجلې، راډیو،تلویزیون،سینماګانو په څېر وسایلو کې دشبوروونو دڅکولو څخه کته اخستل او هرهغه څه چې په دیوڅه کې د ارزښت وړ دي هغه دپیغام ددول او مناسبو وسیلو څخه دهغې د خپرولو انتخاب دی.

۴- دپیغام ساده والی او روانوالی: پیغام باید په ساده او روانه ژبه ولیکل شي چې دلیکونکي دیوخوالي او پوهي څرګندونه وکړي.پیغام باید په مشهور اوساده عبارت سره نشر شي ترڅو داوریدونکو اولیدونکو د پام وړ وګرځي.

دعامه اړیکو او اطلاعاتو ددفتر کار یوازې اوسري نه بلکې په عامه توګه ترسره کېږي. نمور ددې دفتر موخه داده چې خلکو ته دقیق، موثق او د اعتماد وړ خبرونه او معلومات ورکړو.

دعامه اړیکو ددفترونو څخه هیله داده، چې په ټولنه کې د اړونده اداري د منافع حیثیت ولري تر څو دعامه اړیکو اړوند اداري په ټولنه کې د عامه اړیکو د مرستندویه ادارو په توګه مطرح کړي.



# اهمیت ضرورت حمایت از مستهلکین



میدحمن "دوران"
آمر حمایت از مستهلکین

اگر به طور مختصر مکثی درمورد ضرورت حمایت از حقوق مستهلکین داشته باشیم این کافی خواهد بود که بیاد بیاوریم اینکه مستهلکین شامل تمام افراد جامعه است ازطفل شیرخوار تا سال خوردگان در تمام اقشار جامعه بدون هرگونه تمایز .

به این سادگی درمیابیم که حمایت ازحقوق مستهلکین حمایت از حقوق همه ماست دیگر اینکه همه ما وارد معامله خرید وفروش با همدیگر هستیم.

تولید کننده که تنها یک ویا بیشتر از آن را در یک بخش محدود مایحتاج جامعه را تولید می کنند و باقی تمام احتیاجات خودرا اعم از اجناس و خدمات باید از بخش های دیگر دریافت نماید.

واردکننده ها ،عرضه کنندگان امتعه وخدمات، زارعین، تاجران، دوکانداران ودر مجموع فروشنده گان تنها یک ویا چند قلم محدود از مایحتاج در دسترس شان دارند ومتباقی تمام ضروریات شان را از دیگران دریافت میکنند.

کسانیکه از طریق ارایه خدمات معاش می گیرند در حالیکه آنها درامور مربوط خود خدمت می کنند مانند کسانیکه در عرصه تولید، تجارت وزراعت کار میکنند همچنان در سایر بخش هاهمه مستهلک هستند.

قانونمند شدن خرید و فروش اموال وخدمات به ما کمک میکند تا حقوق حقه خود را بدانیم که در مقابل پولی که میپردازیم چگونه اجناس وخدمات را دریافت نماییم.

همه ما حداقل چندین بار در خرید اجناس وخدمات بافروشندگان با مشکلات مواجه بوده ایم وکسانیکه در مارکیت به خرید بیشتر میپردازند وبیشتر معاملات را انجام میدهند آنها به همان تناسب با فروشندگان مشکل داشته اند که هر دو طرف معامله خود را به حق دانسته اند واستدلال یک جانبه خودرا نموده باشند.

اینجاست که میتوانیم به این نتیجه برسیم که روابط مستهلک وفروشنده پیچیده است مستهلک به طور انفرادی نمیتواند از حقوق خویش دفاع نماید. پالیسی و قانون احساس میشود.

قانون حمایت از حقوق مستهلکین روابط مستهلک وفروشنده هارا به صورت دوجانبه مورد حمایت قرار می دهد .ودر پرتو احکام این قانون تمام معاملات در تحویل اجناس وخدمات وتهیه قرار دادها قانونمند شده که این خود در فرهنگ قانونمند شدن کل جامعه رول بسزایی خواهد داشت.





# دوریښمو

## نوې لار او دافغانستان اقتصادي وده

د وریښمو لارې تاریخ ته یوه لنډه کتنه

دوریښمونوې لار هغه اصطلاح ده چې د سوداګرۍ هغې تاریخي شبکې ته اشاره کوي کوم چې شرقې، غربې او شمالي آسیا د مدیترانې هیوادنو، اورپا او همدارنګه دې شمالي او شرقي افریقا دځینو برخوسره نږي.

دوریښمو لار ۴۰۰۰ میله یا ۶۵۰۰ کیلومتره اوږدوالي لري چې په اوږدو کې دکوریا، چین، هند، پاکستان، افغانستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغیزستان، ترکیه، عراق سوریه او داسې نورهیوادانه پراته دي.

داچې ولې د لارې ته د وریښمو لار ویل کیږي څواب یې په تاریخ څه دارنګه پیدا کولای شو، د میلاد نه ۲۰۶ کاله وړاندې چین به خپل د وریښموتولیدات د همدې لارې د نړې نورو هیوادنو ته استول نوپه همدې اساس دې لارې ته وریښمو لاروېل کیږي. دوریښمو دلارې د مرکزي اسیا برخې بیا د میلاد نه ۱۱۴ کال وړاندې پراخیتا موندلې ده.

د وریښمواو د تجارتي مالونو سره بیره په دې لار مختلف نظریات، کلچرونه او مذاهب هم دیوې خوانه بلې خوانه تللي او راغلي دي چې په دې برخه کې د اسلام او دبودایزم مذهب یې ښې بیلګې دي.

لنډه داچې د وریښمو لارې ددې لارې په اوږدو کې د پرتو هیوادنو په اجتماعي، فکري، عقیدوي او اقتصادي وده کې خوار مهم رول لوبولې دي.

ودریښمو نوې لار او دافغانستان اقتصادي وده

دافغانستان منطقوي موقعیت افغانستان ته دا اجازه ورکوي ترڅو په یو بین المنطقوي اوبین القارېی سوداګریز مرکز باندې بدل شي، چې په دې سره به نه یواځې دافغانستان اقتصاد وده ومومي بلکه ورسره به د ګاونډي هیوادنو او د اسیا دلویې وچې اکثره هیوادونه لکه هندوستان،پاکستان، ایران،تاجکستان، ترکمنستان اقتصادي وده هم ترخپلې اغیزې لاندې راولي.

دوریښمودلار په مرسته به افغانستان یوځل بیا د نړې د نور هیودانو سره وترل شي چې په دې سره به دافغانستان هغه انزوا چې له کلنو راهسې دوام لري پای ته ورسیږي.

ځینې امریکاي اقتصاد پوهانو په دې نظر دي چې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت په پام کې نیول باید هڅه وشي ترڅو داسې تګ لاره په پام کې ونیول شي چې ورسره افغانستان په یو منطقوی تجارتي مرکز باندې بدل شي، او دا به د یو داسې هیواد لپاره چې په بهرنیو مرستو باندې ولاړ دې

یوه ښه او دوام دار منبع وګرځي.

د وریښمو له لارې به دافغانستان حکومت و کولای شي چې نوې اقتصادي فرصتونه رامنځ ته او ورسره به نړیوال پانګوال وهڅوي ترڅو په په مختلفو برخوکې پانګونې وکړي، په ځانګړې ډول سره پانګونه د افغانستان په طبعي زیرمو کې به له یوې خوا پانګوالو ته د ګټه وره وي او له بلې خوا به له دې سره به افغانستان دې پرمختګ یو نوې مرحلې ته داخل شي .

څرنګه چې افغانستان په وچه کې راګیر هیواد دې نو د وریښمو له لار به سمندر ته دلارې د پیداکولو په برخه کې هم مرسته وکړي، او ددې لپاره چې ددې لاره له ښه ګټه پورته شي د افغانستان حکومت بایدې د خپلو ګاونډیو سره اوږد مهاله تجارتي لوضنامې ولري، ترڅو افغان سوداګر په اسانۍ او پرته له کومې ستونزې خپل صادراتي او وارداتي مالونه افغانستان ته دننه او دافغانستان نه بهرنه انتقال او په نړیوالو بازارونو کې خرڅ کړي.

دا حقیقت په پام کې نیولو سره چې افغانستان یو کرهنیز هیواد دې او زیات و کړې یې په کرهنه او مالدارۍ بوخت دي نو د وریښمو له لارې سوداګرۍ، به وکولای شي چې د دوې په اقتصادي وضعیت کې بدلون رمنځ ته کړي، څرنګه چې اوس مهال د افغانستان کرهنیز محصولات نړیوال بازارته لار نه شي موندلای ولې که د افغانستان حکومت و تواڼیږي چې د وریښمو له لارې د کرهنیزو محصولاتو ګورنې، مارکیټ د نړیوالو مارکیټونو سره ونښلوي، چې ورسره به زمونږ کرهنیز محصولات،وچه او تازه میوه نړیوالو مارکیټونه لار پیدا کړي، په نړیوالو مارکیټونوکې د کورنې محصولاتو څرڅلاو به له یوه پلوه د کروندګرو او سوداګرو په اقتصادي وده باندې مثبته اغیزه ولري له بله پلوه به د مالیاتو په اخیستلو سره د افغانستان د حکومت د عوایدو کچه هم لوړه شي.

همدارنګه د وریښمو له لارې به زمونږ کورنې لاسي صنایع هم نړیوالومارکیټو ته لار پیدا کړي چې په دې سره به کورنۍ لاسي صنایع او ورسره ترلې کاروته وده ومومي اوپه راتلونکې کښې به یو ستره عایداتي منبع شي.

دامریکا د جیولوژیکي سروې په اساس افغانستان لې تر لږه د ۱ تریلیون دالرو په ارزښت دمعادنو څښتن دي، چې کیندنه او لیږد یې نړیوالو مارکیټونه د یو پرمختللې او خود کفا اقتصاد زیرې ورکوي، ددې لپاره چې موضوع ښه روښانه شي له دې جملې څخه د دوه داسې کانونو یادونه کوم چې په یوه له نیکه مرغه مود وړاندې کار پیل او په بل به یې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې کار پیل شي، چې دا عبارت دي د لوګر د مس عینکو کان اود حاجي ګک د اوسپنې کان، د لوګر د مسی عینک کان څو له ورایه د منطقې دخلکو په اقتصادي ژوند کې مثبت بدلونه رامنځ ته کړي دي، د حاجي ګک کان به هم چې تر کال ۲۰۱۶ پورې استخراج شي ، استخراج او لیږد به یې ۹۰۰۰۰ نوې زره کاري فرصتونه رامنځ ته کړي ، اوس که چیره د داوره ستر کانونه د وریښمو له لارې نړیوالو

بازاروته دی خرڅلاو لپاره ولیږدول شي نو کته او اغیزه به یې په اقصادي وده ب خو برابره شي.
څرنګه موچي د وریښمو د لاري د سوداګري په اړخ خبري وکړي او تر یو اندازې پوري مو د دي لاري اغیزه په اقتصادي وده باندي وڅیړله، اوس راځو ددي لاري په ترانزیتي اړخ باندي لږ رڼا اچو.
د هندوستان او چین په پراخه پیمانې ودي دد هیوادنو ارتیا ګازو او بریښنا ته زیاته کړي ده ، څرنګه چي د ترکمنستان ګاز او تاجکستان بریښنا به د افغانستان له لاري هندوستان او پاکستان ته ترانزیت کیږي نوله همدي امله دا به د افغانستان د حکومت لپاره د یوي ستري عایداتي منبع په توګه رامنځ ته شي. دلوضنامي پر اساس د افغانستان حکومت ته داجازه ورکړل شوي ترڅو یو اندازه بریښنا او ګاز په هیوادا کې دننه مصرف کړي چي دا د هغه کورني تولیدي فابریکو لپاره د خوښي زیري دي چي اوس مهال د بریښنا دکمښت سره مخامخ دي، دبریښنا له زیات والي سره به کورني تولیدي فابریکي په تولید پیل وکړي چي په دي سره به افغانستان د تولیدي اجناسو په برخه کي هم خپل لمړني ګام واخلي.
د بریښنا او ګاز انتقال د تاجکستان او ترکمنستان نه هندستان او پاکستان ته یوه اوږد مهاله پروژه ده چي انتقال یې خورا پرمختللیو زیربنایي جوړښتونو ته ارتیا لري.څرنګه چي افغانستان د زیربنایي جوړښتونو په برخه کي د ستونزو سره مخامخ دي نو په همدي اساس رغونه او تنصیب یې د پام وړ سرمایه ګذاري ته ارتیا لري.ترڅو هغه زیربنایي جوړښتونه چي په دی برخه کي اړین دي رامنځ ته شي لکه دي پایپ لاین اوبریښنا د پایو نصبول او داسي نور.

څرنګه چي د زیربنایي جوړښتونو رغونه خورا زیاته سرمایه ګذاري ته ارتیا لري او دافغانستان حکومت یواځي نه شي کولاي چي داسي ستري پروژي تمویل کړی نو له نیکه مرغه باید ووایم چي د امریکا متحده ایالاتو په دي برخه کي ۴۰ زیربنایي پروژي منظور کړي چي په تطبیق سره به یې په لمړي پړاو کي کاري فرصتونه او عاید خلق شي او په دوهم پړاو کي به افغانستان د منطقي په کچه د پرمختللي زیربنایي جوړښت څښتن شي چي دا به وکولاي شي د وریښمو له لاري سوادګري ته نوره هم وده ورکړه او د افغانتسان حکومت چي اوس مهال په بهرني کومکونو باندي متکي دي دخپلو عایداتي منابعو خاوند کړي.
لنډه داچي د وریښمو نوي لارکولاي چي دافغانانو په ژوند باندي مثبتي اغیزي ولري، هغه داسي چي ددي لاري د پراختیا لپاره باید په پراخه کچه سرمایه ګذاري وشي، پراخه سرمایه ګذاري په نوي کاري فرصتونه رامنځ ته کړي چي ورسره به عاید خلق شي دخلکو د ژوند او د عامه خدمتونو کچه به لوړه شي، په دوهم پړاو کي به افغانستان د پرمختللي زیربنایي جوړښت خاوند شي چي ورسره به نړیواله سوداګري پیل شي، او په دریم پړاو کي به افغان سوداګر و کولاي شی چي منطقوي او نړیوالو مارکیټونو ته لاره پیدا کړي، چي په دي سره به دا فغانستان اقتصاد د وده او پرمختګ پړاو ته داخل شي.



# افغانستان و گام های برای خودکفایی در بخش صنایع سبک

در سراسر افغانستان ۳۰ پارک صنعتی در شهرهای کابل، هرات، مزار، ننگرهار و قندهار ایجاد شده‌اند که ده پارک صنعتی اکنون فعال و تولیدات خود را به بازارهای افغانستان عرضه می‌کنند.

در پارک صنعتی کابل در حومه شرقی این شهر دو صد و هشتاد کارخانه تولیدی فعالیت دارند که چرخ‌های آنها توسط هزاران کارگر افغان می‌چرخد.

عبد الجبار صافی، معاون انجمن صنایع افغانستان می‌گوید که ۱۶۰ هزار کارگر افغان در این پارک‌های صنعتی مشغول کاراند.

در یک دهه اخیر در بخش صنعت و تولید داخلی افغانستان حدود یک میلیارد دلار سرمایه گذاری شده‌است.

وفی‌الله افتخار، رئیس اداره حمایت از سرمایه گذاری افغانستان، آیسا، می‌گوید: "در حدود پنج هزار و ۵۰۰ جواز صنعتی در این اداره ثبت شده که از این میان اکنون حدود دو هزار و ۵۰۰ کارخانه عملا فعال هستند. در بخش‌هایی که از نظر تولید به خودکفایی نزدیک شده‌ایم شامل تولید انواع نوشابه، آب تصفیه‌شده، چاپ و انواع مختلف پلاستیک است."

قبل از این آب آشامیدنی معدنی از خارج وارد می‌شد اما حالا انواع نوشیدنی‌هایی که بر سر سفره‌های خانواده‌ها، میزهای مهمانی، رستورانت‌ها، کافه‌ها و دوکان‌ها دیده می‌شوند، محصول کارخانه‌های داخل افغانستان هستند.

شرکت تولید نوشابه حبیب گلزار برای تولید انواع نوشابه در کابل، نود میلیون دلار سرمایه‌گذاری کرده است.

ذبیح‌الله استانکزی، مدیر بخش فنی این شرکت می‌گوید که این شرکت سیزده نوع نوشابه گازدار و بدون گاز تولید می‌کند.

آقای استانکزی گفت: "ظرفیت مصرف انواع نوشابه در افغانستان نزدیک به ۳۰ میلیون کارتن ۱۲ دانه‌ای بطری در سال است. تنها ظرفیت تولید شرکت ما بالا تر از ۵۰ میلیون کارتن در سال است. اگر ما شرکت‌های تولید نوشابه دیگر را نیز در نظر بگیریم، ظرفیت تولید نوشیدنی در افغانستان دو برابر نیاز کشور می‌شود."

مصرف آب تصفیه شده، نوشابه های گازدار و آب میوه اکنون به دلیل قیمت مناسب و تولید انبوه آن در افغانستان افزایش یافته است.

علاوه بر افزایش کارخانه‌های تولید نوشابه، اکنون کارخانه‌های تولید پلاستیک ۹۰ درصد از نیازهای بازار افغانستان را تامین می‌کنند.

انواع فراوردهای پلاستیکی

تولید انواع فرآورده‌های پلاستیکی از جمله لوله‌های پلاستیکی و سرپایی (دمپایی) پلاستیکی از دیگر اقلامی هستند که به گفته مقام‌های افغان و صنعتگران به خود کفایی نزدیک شده اند.

نجیب الله لطیفی، رئیس بخش تولیدات کارخانه لوله های پلاستیکی اچ‌اس‌پی که با بیش از ۲۰ میلیون دلار سرمایه فعالیت خود را در سال ۲۰۰۷ در کابل آغاز کرد، دراین باره می‌گوید که ظرفیت تولید کارخانه‌اش اکنون در حدی است که نیاز افغانستان را مرفوع می‌کند.

در حال حاضر نزدیک به نود درصد سرپایی و کفش‌های پلاستیکی مورد نیاز در داخل افغانستان تولید می‌شود و چندین کارخانه در ولایت مختلف افغانستان تنها این نوع محصول را تولید می کنند.

**افغانستان در بخش صنایع سبک به پیشرفت‌هایی دست یافته و این روند باعث شده که افغانستان در تولید پانزده تا هفده نوع کالا و نوشابه به خودکفایی نزدیک شود.**

# هنر او ادب

## آزادی

شهرت د عقل له نامه دافلاطونه نه خي
د ازادۍ مینه هېځکله له پښتونه نه خي
که هر څه لاړ شي له دي د هر او جهانه څخي
د بل له جغ لاندي ژوندی ویښ ملتونه نه خي
آ زادی معراج له نه رسېږي هغه کسان
چي د غیرت او ننګ په لار کي يي سرونه نه خي
په توره باندي چي مر نه شي څوک يي نه پېژني
داسي مزار ته پښتني ملالی نجونه نه خي
سروصال خي د عشق په لار کړ خاوري کېږي پرونه
د لیلی مینه پس له مرګه له مجنونه نه خي

## زمانه

زمانه پر مخ روانه ګــــرځــــــدي ده
انتظار نه کا زمور د پـــاخــــــيدلو
یاران لاړل په چمن کي ننداري کا
مور یو پاتي لا په خبر د یخنـــــولو
زړه دي سور حیات ببخونده سینه یخه
روح آرزو کري د کالبد د تــشـولو
په یوه پیاله دي مر قوم را بیدار کـــړه
ګوره خي مخ د ګرنګ په پریوتـــــلو
د ژوندون خزان په تول بهار بهار شي
که ساقي وکري همت د مي ویشلو

عبدالحی حبیبی

## زندگی

زندگی بدون هدف ، چرخ زندگی را به دست قضا و قدر سپردن است
زندگی با شادی و غم همراه است و نباید از آن بیم داشت
زندگی بدون عشق، مثل عبادت است بدون ایمان
زندگی برای سعادت نیست ،بلکه برای تکامل است
زندگی با خطر توأم نباشد ،زندگی نیست
زندگی بدون آروز انسان را به گور می برد
زندگی بدون کار ،مردن پیش از وقت است
زندگی تجربه است، تلخ و گاهی شیرین
زندگی بسیار ساده و راحت است

# آقینه یا آقگین

بندر تجارتی آقینه که در سرحد با کشور همسایه ترکمنستان در فاصله ۳۵ کیلومتری شهر اندخوی موقعیت دارد یکی از بنادر مهم در عرصه تنظیم روابط تجارتی کشور ما با کشور های آسیایی و اروپایی و یکی از منابع عایداتی بشمار میرود خط فاصل سرحد میان این دو کشور که در سال ۱۸۸۷ میلادی توسط نماینده گان دولت های اتحاد شوروی سابق بریتانیا کبیر و افغانستان تعین گردیده است با علایم فارقه سیم خاردار و در بعضی نقاط با نصب پایه های کانکریتی مزین با بیرق های دو کشور مشخص گردیده است اگر در پس منظر تاریخی و چگونگی تجارت از این مسیر در روابط تجارتی میان مردمان کشور های آسیایی و اروپایی آنزمان نظری بیافگنیم به واضح در میبابیم که مسیر آقینه امروزی به جاده تجارتی موسوم به راه ابریشم منتهی میشود که محموله ها و کاروان های تجارتی میان کشور های حوزه مذکور به گونه بارتر توسط حیوانات از همین مسیر عبور و تبادله گردیده و امورات گمرکی آن با ایجاد اداره دولتی بنام کمیساری سرحدی و اعمار دروازه عبوری نزدیک به شهر اندخوی امروزی که بنام دروازه بخارا یاد میگردید صورت می پذیرفت

بندر آقینه به گواهی محققین بررغم روابط عنعنوی و سوابق تجارتی که داشت پس از پیروزی انقلاب اکتوبر در روسیه بر روی تجار و مردمان دو طرف مرز مسدود گردید که این امر تا سال های قبل به قوت خود باقی مانده بود.

خوشبختانه با گذشت حدود یک قرن از پیروزی انقلاب اسلامی در کشور در سال ۱۳۷۱ مجددا بندر آقینه با تفاهم حکومت ترکمنستان باز گشـــــایی گردیده و فعالیت های تجارتی از این مســــیر با ایجاد گمرک و آمریت سرحدی و نماینده گی وزارت خارجه آغاز گردید.

در حـــــال حاضر در این بندر علاوه به مدیریت گمرک سـرحدی ادارات دیگری چون نماینده گی های شرکت های استرابی و افسوتر ، مواد نفتی ، ترانسپورت دولتی و خصوصی و امنیت ملی فعال بوده و هریک مصروف انجام امورات محوله شان میباشند بندر تجارتی آقینه دارای شهـــــــرک کوچک بوده و تعـــداد کارمندان دولتـــــــی خصوصـــــــی به شمول پیشه وران و دوکانداران در این محل در حدود (۵۰۰) نفر میرســــــد.

اموال تجارتی که از طریق این بندر وارد کشور میشود بیشتر اموال ارتزاقی، استهلاکی، تخنیکی، مواد نفتی، ادویه طبی، مفروشات، عراده جات از کشور های ایران، چین، ترکیه، امارت متحده عرب، آلمان، روسیه، اندونیزیا، مالیزیا،کوریا، جاپان و ترکمنستان وارد میگردد و به همین گونه محصولات زراعتی و حیوانی و قسما محصولات و فرآورده های صناعتی کشور از قبیل قالین ، پوست قره قل، روده گوسفند، زغیر، کنجد، اسفند دانه، شیرین بویه، اوستوق، کشمش، چهارمغز، بادام وغیره اجناس توسط تجاران کشور به کشور های ایران، ترکیه، فنلند، روسیه و عربستان صادر میشود که عواید گمرکی چنین فعالیت ها با گذشت هر سال رو به افزایش میباشد.

# د ننګرهار د سوداګرۍ او صنایعو ریاست فعالیتونه او لاسته راوړنې

د ننګرهار ولایت د سوداګرۍ او صنایعو ریاست په ۱۳۸۸ لمریز کال کې تاسیس او د سوداګرۍ او صنایعو وزارت خوري وري څانګې په یو تشکیلاتي جوړښت کې راغونډ او د جلال آباد کابل پر لویه لاره د چکنوریو په سیمه کې په یوه جریب ځمکه کې ودانۍ جوړه او په فعالیت یې پیل وکړ. چې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د رتب معاش په سیستم کې شامل او تر ډېره وخته د څینو ستونزو له امله د رتب معاش سیستم تطبیق او آزادي سیالۍ ته زمینه برابره نه شوه، غوارم پر لنډ ډول د روان لمریز کال د شپږو لومړنیو میاشتو پر فعالیتونو او لاسته راوړنو رڼا واچوم.

- اداري سیستم: څرنګه چې مخکې یادونه وشوه د ننګرهار د سوداګرۍ او صنایعو ریاست د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د خورو خورو څانګو له یوځایښت څخه رامنځته شوه، چې د صنعتي پارکونو امریت په نوي تشکیل کې د صنعتي پارکونو عمومي مدیریت ، د ثبت مرکزي عمومي مدیریت او د جوازنامې صدور عمومي مدیریت چې د څینو اداري ستونزو او څانپالو مسولینو د شتون له امله د ریاست مقام ترچتر لاندې نه وې راغلې او په څپلواک ډول د څپلواکو څانګو په توګه ناقانونه فعالیت درلود. د ننګرهار د سوداګرۍ او صنایعو رئیس په توګه د ښاغلي شېرعلم امله وال تر ټاکنې او د دندې اشغال وروسته داداري رئیس په کاري لومړیتوب کې د اداري سیستم اصلاح او سمون ځای او عملي فعالیت یې شروع کړ. له نېکمرغه د ننګرهار ولایت مقام او د سوداګرۍ اوصنایعو وزارت درانه مقام په مرستو او همکاریو د واحد اداري سیستم ایجاد او د ټولو څانګو د یوه چتر لاندې راتلو لپاره عملي هلې ځلې پیل شوې چې له ښه مرغه د ۱۳۹۲ لمریز کال د ثور پر میاشت د دې ریاست ټولې څانګې تریو واحد چتر لاندې راغلې او ټولې رسمي چارې یې د ریاست مقام تر رهبرۍ لاندې ترسره کېږي. د اړتیا پر وخت د ریاست مقام د رهبرۍ جلسې په منظم ډول دایرېږي او پرېکړې یې عملاً عملي کېږي.

د مامورینو او اجیرانو په په تېر ۱۳۹۱ لمریز کال پاتې حقوق او امتیازات اجرا او ستونزو ته یې پروخت رسیده ګې شوې.

- د څینو څانګو او اداري اسناد او اوراق ، پرځمکه پراته وه چې اکثرو څانګو لپاره د اړتیاوړ الماری اومیزونه خریداري شوې او اسناد یې له ځمکې پورته او په الماریو کې ځای پرځای شوي دي.
- په تېرو ځلورو کلونو کې د څینو ستونزو او ننګونو له مخې د رتب معاش سیستم نه و تطبیق شوی، خو د نوي رئیس په مشرۍ د استخدام ولایتي کمیټې د دې ریاست ټولو بستونو ازموینې د ازادي سیالۍ له لارې واخیستلې په پوره ایمانداري ، صداقت، ناپېلتوب او روڼتیا سره اهل کدرونه غوره او پردندو پیل وکړ، چې له نیکمرغه د ننګرهار د سوداګرۍ او صنایعو ریاست اوسمهال په مکمل ډول د رتب معاش سیستم تر پوښښ لاندې راغلی ټول مامورین او اجیران دازادي سیالۍ له لارې ټاکل شوي دي.
- ټولو څانګو لپاره د انټرنېټ اسانتیابرابره شوې.

او د انټرنېټ سیستم د پیاوړتیا لپاره وزارت مقام سره اړیکې ټینګ شوې په نږدې راتلونکي کې به د څواکمن انټرنیټي سیستم څاوندان شو.

- د ولایت مقام په اداري، اقتصادي اونورو غونډو کې فعاله ګډون شوی له رسنیو سره د سوداګریزو اوصنعتي فعالیتونو په باب مرکې ترسره شوې د سوداګرو او صنعت کارانو له استازو سره وخت پروخت ناستې برابر شوې.
- د ریاست لپاره د اوبو برېښنا اسانتیا برابرشوې. د ریاست مقام لپاره نوی موټر خریداري شوی او د مراجعینو کارونه او اداري چارې له ځنډ او ځنډ پرته پر وخت ترسره شوي دي.
- د ننګرهار ولایت د غالیو اوبدونکو صنعتي پارک د سر ک کشۍ پروژې دا وطلبۍ چارې چې په ۱۳۹۱ کال پیل شوې وې د ریاست مقام په هلو ځلو دولایت مقام او وزارت مقام په مرسته د ۱۳۹۲ لمریز کال د سرطان پر ۲ نېټه عملي چارې پیل شوې، چې یاده پروژه د ۲۲,۰۹۱,۲۵۰,۰۰ افغانیو په مقابل کې و حید وهاج ساختماني او سرک جوړونې شرکت سره قرار داد ترسره او عملي چارې یې بشپړې شوي
- د ریاست په انګر کې د ۳۰۰ مترو په شاوخوا ساحه کې شین چمن زینتي او میوه لرونکي بوټي کرل شوي دي.
- د ریاست موټرو پارکېنګ لپاره د ساحې د ډکون چارې یوه اندازه بشپړ او نږدې راتلونکي کې به یې نورې چارې هم پیل شي.





# بازارهای اقتصادی افغانستان



برای تجارت داخلی کشورها که یکی از بخش های عمدهٔ آن تولید و توزیع می باشد علم اقتصاد دانسته میشود دایماً اقتصاد وظیفه توزیعی داشته و در بین عاملین دیگری اقتصاد تولید کننده و مصرف کننده قرار دارد بدین سبب تجارت داخلی از همه اولتر از بخش های تولیدی داخلی چون صنعت، زراعت، خدمات و ترانسپورت متأثر میگردد. پس لازم دانسته میشود به وضع تجارت و بازار داخلی نظر بی اندازیم با وجود ارقام تعجب بر انگیز ٪۷ رشد در زراعت قبل از انقلاب اسلامی که به یقین خیلی ها غیر دقیق است که در سالهای اخیر نابسامانی در سکتور زراعت صورت گرفته است که ساحه جغرافیای کشور بالغ بر ۶۵۲۲۵ کیلو متر مربع تخمین شده که کمتر از ٪۴۰ آن از جمله اراضی قابل کشت ۷۹۱۰۰۰۰ هکتار که ٪۱۲.۱ مجموع مساحت کشور را تشکیل میدهد از این اراضی قابل کشت صرف ساحه ۲۸۳۹۰۰۰ هکتار زمین تحت کشت و زرع قرار دارد که ٪۴.۴ مساحت کشور را تشکیل میدهد که حاصل آن در بازار های داخلی داد و ستد میشود که خارج شدن نیروی کار در عرصه تولیدی فعال در موقع جنگ های تحملی باعث خارج شدن ساحه زراعتی گردیده و بازارهای داخلی خودرا از دست داده قرار راپورهای رسمی در حدود ٪۵۰ نفوس دهات را ترک گفته تنها در ۱۰ سال قبل از انقلاب بیش از ۲۰۰۰ هزار هکتار بخش جنگلات را از بین برد که این همه بالای بیکر بازارهای داخلی ضربه وارد کرد وهمچنان بیش از ۴۰۰۰۰ هزار هکتار باغ و ۱۰۰۰ هزار عراده تراکتور به آتش کشیده شد پنج و نیم میلیون راس که این همه مربوط به بخشهای خصوصی بوده که در حدود ۱۴۰ میلیون افغانی به نرخ رسمی ۵۰.۵۰ افغانی فی دالر محاسبه میگردد که این خسارات را به بازار نرخ اسعار وارد نمود که فارم های دولتی ننگرهار که بزرگترین فارم کشور بود در رقابت با میوه جات پاکستانی قرار داشت از بین رفت که این خلا مواشی و بیش از ۸۰۰۰هزار چشمه کاریز تخریب گردید

باید از طریق تجارت خارجی آن هم از بازارهای پاکستانی مرفوع گردد به یقین از بین رفتن برای جانب افغانی فراموش ناشدنی است در پهلوی از بین رفتن فارمهای تنگرهار و بازارهای داخلی دیگر مانند پروژه بند سرده غزنی پروژه وادی هلمند، پروژه بند سلمای هرات، پروژه سرد خانه هرات و ده ها تابوت پروژه های دیگر قرار گرفت و بزرگترین منبع تجارت داخلی از بازاهای زراعتی داخلی مسدود گردید. که زراعت ٪۸۰ مردم این کشور را بخود مشغول داشته بود و از ٪۷۲ صادرات کشور را در بر میگرفت نه تنها صادرات تقویه نگردید بلکه با تجارت داخلی نیز وداع گفت و جای خویش را به بازارهای خارجی خالی کرد. صنعت که در دوره های قبل رول عمده را در تجارت داخلی داشت با از بین رفتن بخش زراعت بخش صنعت هم رو به زوال گذاشت و بالای بازارهای داخلی تأثیر گذاشت انرژی برق ،سنگ ذغال، نفت وگاز، صنایع کیمیاوی، ساختمان، ماشین سازی و فلزکاری ، تولید ادویه صنایع طباعتی، تجاری و کاغذ سازی، صنایع خفیفه، صنایع مواد ارتزاقی وسایر صنایع درکشور فعالانه فعالیت داشتند که بعد از انقلاب اکثراً تخریب و قسمت آن نیم جان اند به گفته معاون وزارت صنایع خفیفه مواد غذایی که در سرویس خبری شب ۳۰ عقرب سال ۱۳۷۲ نشر شده گفت که بشتر از دوصد میلیون دالر ضرورت است که موسسات صنعتی ، دولتی مربوط این وزارت را احیا کنیم که این مقدار پول به جیب خارجی ها میرود. نساجی گل بهار که دارای ۲۰۰۸ پایه ماشین بافت و ۵۴۷۸۰ دوک نختابی بود تولیدات سالانه این فابریکه که بطور اوسط ۴۳میلیون متر تکه و ۶۵۶۰۶ گده نخ تولید میکرد شرکت نساجی افغان که در این اواخر تعمیرش نیز به آتش کشیده شده است تکه های داخلی مربوط شرکت نساجی افغان در بازار های داخلی به فروش میرسید که به مقایسه تکه های پاکستانی ارزانتر بود از نگاه کیفیت هم نظر به تکه های پاکستانی با کیفیت بود ناگفته نباید گذاشت که ایتالیا یکی از وارد کنندگان سان کوره ( کرباس) فابریکه گل بهار بود که این هم به یغما رفت . در پهلوی موسسات نساجی به باد کشیده شده بزرگترین موسسه فلزکاری کشور را تا بود و تمام دارای اش را به غارت برد ند . تصدی سیلوی مرکزی میلیون ها افغانی را از درک فروش نان به بودجه کشور وارد میکرد و از بزرگترین تصدی های نان پزی کشور به شمار میرفت تخریب آن تأثیر را بالای قیمت نان گذاشت که به جز قد بلند ش چیزی دیگری از آن باقی نیست . صنایع پلاستیک سازی از لحاظ کیفیت و شکل میتوانست جواب گوی کالای پاکستانی باشد چنان خالی گردید که در فابریکه بجز لاش آهنین چیزی دیگری وجود ندارد بدین وسیله تقاضای جدید برای بازارهای پاکستانی باز شد این مثالهای بود از تولیدات داخلی و به خرابه ها مبدل شد در پهلوی آن استفاده ظالمانه ای بعضی از تجار وضع بازار و تجارت داخلی را مغلق تر میسازد. تجارت داخلی در اوضاع و شرایط موجوده در اثر عوامل گوناگون چون رشد نفوس شهری ، ازدیاد مصرف کنند گان ، افزایش مصرف و ازدیاد تقاضای دولت از بازار آزاد داخلی منحیث واحد اقتصادی تقاضا کننده تنزیل ارزش پول و بدان وسیله افزایش قیمت ها روز به روز خون اقتصاد کشور را مینوشد تجارت داخلی ما برای بیگانه ها چنان مفاد آور است و آنچنان بازار را بوجود آورده است که همه چیز بدون استثنا به فروش میرسد از ترس اینکه هر گونه کنترول جدی وخطر قحطی را در پی دارد و تعقیب پالیسی باز بودن بازار به هر قیمت آزادی تجارت داخلی بصورت خاص با وجود نقایص فراوان آن با وجود اینکه میدانیم خارجی ها در کمین گاه نشسته اند و میخواهند که بازارهای داخلی مارا متکی بخود سازند و تمام هستی و دارای و نظام های اقتصادی و اجتماعی کشور مارا به یغما ببرند پس برهم وطنان لازم است که از خواب غفلت بیدارشوند و خود را تکان بدهند تا اینکه بتوانند در صحنه مبارزه اقتصادی موفقیت های هرچه بیشتری را نسیب گردند

## بازار های خارجی افغانستان

تجارت خارجی نیز مانند تجارت داخلی در سال های ۱۳۷۲ و ۱۳۷۳ دچار تحولات عمیق گردید که در مرحله اول یعنی سالهای ۱۳۷۲-۱۳۷۱ تغیر سرمایه صنعتی به سرمایه تجارتی را به اثر از بین رفتن و به خطر افتیدن سرمایه صنعتی و سال های ۱۳۷۳ فرار سرمایه تجارتی را بر اثر جنگ های تحمیلی مشاهده نموده میتوانیم حوزه های صادراتی اکثراً مربوط به کشور پاکستان گردیده و حوزه های تجارتی دیگر مسدود گردید و بصورت غیرمستقیم و غیر رسمی ما از چگونگی بازار صادرات افغانستان در سال های ۱۳۷۳-۱۳۷۲-۱۳۷۰ تدریجا بسوی منحصر شدن یک کشور گام های را برداشت و همسایه شرقی با حالت خاص حد اعظم بهره را بدست آورد تقریباً تمام از مواد صادراتی که قبل از انقلاب بصورت مستقیم به کشورهای دیگر صادر میگردید راهی پاکستان گردید و از این طریق به نام تولیدات پاکستانی راهی خارج شدند بدین وسیله حالات سیاسی و نظامی کشور زمینه آنرا مهیا ساخت تا بصورت آسان رقیب تازه را که هیچ گونه تولیدات نداشت در بازارهای جهانی در مقابل تولیدات افغانستان که جایش خالی بود قرارداد. عمده ترین محصولات که در اینجا در بخش تجارتی کشور بروز نمود وابستگی اقتصادی کشور در انحصار چندکشور محدود و بخصوص کشورهای همسایه پایه گذاری گردید. تأثیرات این وابستگی را مشاهده نموده میتوانیم که بعداً روی آن انگشت خواهم گذاشت فرو پاشی اتحادیه شوروی سابق و ایجاد کشورهای مشترک المنافع و جریان تجارت با این دسته کشورها مانند گذشته شکل نسبتا نور مال خود را پی مود و تجارت با کشورهای دیگری چون هند، جاپان ، انگلیستان، آلمان و کشورهای اروپای از جمله رقیب های تجارتی کشور مانند گذشته به شمار آمد که میتوانست با اتخاذ سیاست خارجی تجارتی معقول منبع خوب تهیه اسعار کشور باشد ولی متأسفانه با سیاست های طفلانه تجارتي همه بازارهای مهم و حیاتی در سطح منطقه و جهان را تدریجا و بعدا قالین به تعداد زیاد به کشور پاکستان صورت میگرفت که به نام امتعه پاکستانی در بازارهای قبلی کشور ما به فروش رسید کشورهای بیگانه به منظور ضعیف ساختن صادرات کشور بخصوص میوه جات خشک به خریداری ریشه های درختان

پسته آغاز نموده که بعد از انقلاب اسلامی دروازه های بازار سریع از دست دادیم صادرات نمود که بازارهای اقتصادی این کشور فعال، شفاف و آزاد نمی باشد:

قدرت مندان وثروت مندان(کسانیکه در طی چند دهه اخیر جایگاهی خود را تعین نموده اند) مستفید گردیده و بازارهای اقتصادی کشور را در انحصار خود دارند. توزیع عادلانه منافع اقتصادی بین نسل ها و گروهای اجتماعی و فرهنگی مختلف صورت گرفته است. رشد و توسعه اقتصادی نه تنها از نظر کمی با اهمیت است بلکه از نظر کیفی نیز مهم میباشد ، بعضی شاخص های اجتماعی را بهبود بخشیده و کدام تناقص در توزیع عادلانه و مساویانه منافع و جود نداشته باشد اما فضای اقتصادی موجوده، تشدید کننده عدم تساوی بوده و اثرات منفی دارد .یکی از راهای اساسی رشد و توسعه اقتصادی افغانستان در طویل المدت رشد سکتور خصوصی میباشد ولی این کار توسط آنانیکه در بازارهای اقتصادی کشورتسلط عام و تام دارند منبع قرار گرفته است فرصت های سهم گیری و اشتراک در اقتصاد این کشور برای همه بطور یک نواخت مساعد نیست برگشت معامله گران جدید و سرمایه گذارهای جدید به کشور یقیناً محدود شده است. علاوه بر آن وضعیت موجوده از رشد و انکشاف معامله گران متوسط و کوچک تر جلوگیری مینماید در ضمن این روند باعث تقویه نقش و کنترول نظامی و سیاسی در اقتصاد آزاد افغانستان میشود و ساختارهای دولتی را تضعیف مینماید ، بی امنیتی در سراسر کشور، تعلیق خلع سلاح مداخله گران عواید غیر قانونی، کشت خش خاش، مالیات غیر قانونی، و عواید غیر قانونی چون مالیات گمراکات میباشد از جمله مشکلات در این زمینه است، معامله گران بزرگ آنانکه بطور مستقیم از قرار دادهای بزرگ و تجارت استفاده جوی می نمایند. نوعیت فعالیت های تعداد از سکتورهای خصوصی نیز اثرات منفی را بالای محیط میداشته باشند از نگاه منابع طبیعی، استخراج رنگ تراکم استفاده جنلهای دریا نگران کننده است بعضی موارد فعالیت های اقتصادی مسایل صحی و بهداشت مورد توجه و کنترول قرار نگرفته است، گماشتن اطفال به کارهای شاقه و ثقیل نگران کننده است و شرایط صحی برایشان و جود ندارد. وضعیت افغانستان در مرحله رشد و توسعه اقتصادی قرار دارد که نظر به چند سال قبل افراد زیادی در فعالیت های تولیدی و اقتصادی مصروف اند اما مهمترین مسئله این است که چه باید کرد تاسهم و اشتراک گروها در بازارهای اقتصادی بیشتر شده و منافع رشد و توسعه اقتصادی گستر ده تر گردیده اند چه باید کرد تاحساب دهی معاملات تجارتی شفاف تر شده و برای تاجران و معامله گران کوچکتر فرصت های سهم گیری در این بازارها رشد داده شود. یکی دیگری از راه های بلند بردن سطح سهم گیری تاجران در معاملات تجارتی میباشد، برای آنها باید فرصت داده شود قرضه اخذ نمایند تا موفقانه و توان مندی با معامله گران بزرگتر رقابت نمایند علاوتاً باید اتحادیه های کار گری ایجاد شده و فعالیت های گروهی آغاز گردند و آزادانه عمل نمایند دولت استراتژی های را از قبیل خلع سلاح بر قرار نمودن امنیت، کنترول عواید دولتی و محدود نمودن عواید غیرقانونی و به دست نگرفتن یک روش خوب و بهتر را در دست گیرند برای اینکه وضعیت کندی پروسه معاملات تجارتی و اقتصاد آزاد افغانستان بهبود یابد، نیاز است تا دولت استراتژی های همه جانبه و سیاسی را به منظور توسعه اقتصادی مناسب ، ایجاد فرصت های بیشتر سهم گیری در بازار، توزیع عواید بطور گسترده و آزادانه و در خواست حساب دهی از گردانندگان بازارهای اقتصادی طرح تصویب و تطبیق نمایند و از طرف دیگر محکم ساختن مرزهای کشور غرض از بین بردن قاچاق و غیره را دولت باید در نظر گیرد.

تهیه و ترتیب کننده : عبدالبصیر "عثمانی" مدیر عمومی پالیسی مواد نفتی و گاز مایع

# صنعت او په افغانستان کې د صنعت تاریخي بهیر

باید ووایوچې په لرغونو زمانو کې ښارونو او کرنیزو محصولاتو د خلکو اړتیاوې نه شوې پوره کولای نو خلکو د کرنې پیاوړتیا ته پام واړاو نو ځکه یې د اړتیا له مخې اسبابونه جوړکړل چې همدا د لومړي صنعت پیلامه وه همدارنګه کله چې انسان له کوچیانې ژوند نه د میشت کېدو خوا ته راغی، نو انسان به خپل ټول اړتیاوړ توکي په لاسو جوړول.له ښاورینو کتوریو نیولې ان تر کالیو او جامو پورې ټول شیان به یې په طبیعت کې له شته توکو نه په لاسونو اوبدل او جوړول.هغه وخت لاسي صنایع د بشر له رغنده استعدادونو او له نوښتونو ډک ول او هر قوم به له خپل استعداد او وړتیاوو سره سم داړتیا وړ توکي رامنځته کول.

د لرغونو انسانانو هر قوم او قبیلې به دسیمې چاپیریال له مخې خپل،خپل لاسي توکي رامنځته کول. د ساري په توګه طبیعت د سړو سیمو خلک دې ته اړ وېستل چې له سړو نه د بچ کېدو په موخه ځانونو ته تودې جامې وګندي او د حیواناتو له پوستینونو څخه ځانو ته کالي او نور توکي جوړ کړي . همدغو لاسي صنایعو د وخت په تیرېدوسره پرمختګ وکړ، خو کله چې انسان د فلزاتو ویلې کېدل زده کړل چې دا صنعت دویم پړاو بلل کیږي چې د ماشین تراختراع پورې د دودیز صنعت لړۍ روانه وه خو کله چې په اوولسمې میلادي پیړۍ، په اخرو کې په انګلستان کې صنعتي اوښتون رامنځته شو نو په نړۍ کې ژور بدلو ن راغی.

په نړۍ کې عصري توکي او وسایل رامنځته شول.د خلکو د ګټې اخیستنې لپاره د توکو استعصال،کیفیت او بنې بدلون ته صنعت ویل کیږي،چې د اقتصاد د علم له نظره هغه تولیدي پروسه ده چې له خامو موادو لکه وړۍ،پنبې ،پوستکي او نورو څخه د انسان د مېټ قوت،څواک او یا د ماشین په وسیله نړۍ کار اخیستل کیږي.په دې کې شک نشته چې صنایع د هیواد په اقتصاد کې ستر ارزښت او اهمیت لري.په هیوادونو کې د صنعت د پرمختګ سره د بهرنۍ سوداګرۍ، نا الدولې له منځه ځي.له پورتینو ځرګندونو څخه داسې رامعلومیږي چې په نړۍ کې دوه ډوله صنعت شتون لري:

لومړنی صنعت Primary Industry:

په لومړنې صنعت کې ټولې هغه کرنې شاملې دي چې په اومو موادو پورې اړه لري د بېلګې په توګه د کانې زیرمو راویستل،کرنه کول،کب نیونه،ځنګلونه پرې کول.په لومړنې صنعت کې انسان په خپله څه نه پیدا کوي بلکې له طبیعت څخه یې د ځینو وسایلو په وسیله منځته راوړي.د بېلګې په توګه کروند ګر د کرنې په وسیله توکي لاسته راوړي چې پوازې د کرنې پروسه مخ ته وړي یا کب نیوونکي کبان نیسي.په دې پروسه کې انسان په خپله توکي منځته نه راوړي، بلکې د وسایلو په وسیله توکي د کارولو لپاره لاسته راوړي.لومړنی صنعت په دوه ډوله دی:

۱-استخراجي صنعت Extractive industry:په دې ډول صنعت کې ټولنې هغه کړنې شاملې دي چې د ځمکې له سر یا منځ څخه اومه مواد راوباسي. د بېلګې په توګه د کانونو راویستل،ځنګلونو وهل ،کب نیونه او نور.

۲- جنتکي صنعتGenetics industry: په دې ډول صنعت کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې د حیواناتو او نباتوانو په پالنه کې تر سره کیږي.د بېلګې په توګه د نباتاتو کینول، قلمې لګول د کبانو روزل،چرګانو روزل او نور.

منځنی صنعتSecondary Industry:

منځنی صنعت هغه صنعت ته ویل کیږي چې په هغه کې اومه مواد په لا ګټور شکل اړول کیږي.یانې له اومه موادو څخه بیلا بیل توکي جوړیږي.د بېلګې په توګه کله چې کروندګر غنم لاسته راوړل له غنمو ډوډۍ ، کیک ،کلچو جوړولو ته یا د ځنګل له لرګیو نور عصري توکي لکه فرنیچر جوړلو ته منځنی صنعت ویل کیږي. په منځني صنعت کې توکي په بیلا بیلو بڼو بدلیږي. منځنی صنعت هم په درې ډوله دی:

Aچې له رغونې سره سروکار لري د بېلګې په توګه: سړکونو رغول،کورونو رغول ،ساه ګانو جوړول او نور.

۲- تولیدي صنعت Manufacring industry: په دې ډول صنعت کې توکي په کار قامه او نیمه کار قامه توکو بدلیږي دساري په ډول: د بیلابیلو خوړو جوول،د کالیو جوړول او نور.

۳-چوپړتیایي صنعت Services industry:په دې ډول صنعت کې ټولې مسلکي چوپړتیاوې شاملې دي چې انسانان یې سرته رسوي د بېلګې په توګه روغتیا پالې،ښوونه او روزنه او نور.

صنعت د جوړیدا په لحاظ هم په دوه ډوله دی چې عبارت دي له:

۱-لاسي صنعت Handcraft:

Aلري.لاسي صنعت د هیواد په اقتصاد او د کورنیو په اقتصادي وده کې مهمه ونډه لري چې په پرمختللو او پرمختیایي هیوادنو یو شان ارزښت لري د پرمختللو هیوادونو له ډلې د المان او جاپان په اقتصاد کې ځانګړې ځای لري. که موږ او تاسو د نړۍ بازارونو ته وګورو نو ټول په زره پورې ماشیني صنایعو څخه ډک دي خو بیا هم د ماشیني صنعت په نسبت د لاسي صنایعو مینه وال ډیر دي.

۲-ماشیني صنعت:

تول هغه توکي چې د ماشین په وسیله جوړیږي ماشیني صنعت بلل کیږي، چې په کې تولې درنې ،منځنۍ او سپکې صنایع شاملې دي. خو باید وویل شي چې د ماشیني صنعت تر راتګ دمخه تول د کار وسایل په لاس جوړیدل. د لومړي ځل لپاره کله چې د انګلستان صنعتي اوښتون رامنځته شو، نو د نړۍ په اقتصادي ژوند- ژواک کې لوي بدلون رامنځته شو. تر هغې وروسته ډیر لاسي کارونه په ماشین بدل شول او هر هیواد د خپل ځواک په اندازه له ماشین الاتو څخه کار اخیستل پیل کړل.
زموږ په لرغوني هیواد کې چې د زرګونو کلو تاریخ لري او ددې تولې دورې په اوږدو کې د فرهنګ او مدنیتونو ځانګو ده په یو شمیر سیمو،لکه کاپیسا ،بګرام ،هډه،بامیان، اي خانم،میرزکه او نورو کې د پلټنو او کیندنو په پایله کې داسې لاسي صنایع تر لاسه شوي چې د ډیر ښه او لوړ هنر ذوق استازیتوب کوي.

دخینو تاریخپوهانو او لرغون پیژندویانو د اټکل له مخې ۹۰۰۰ کاله دمخه په اریانا کې د فلزاتو دوره پیل شوې چې د مس او قلعي ګډ مرکب د هډوکو او تیګوڅخه د جوړو وسایلو ځای ونیو او بیا له نن نه پنځه زره کاله وراندې ددول دول مسکوکاتو،کلالي صنعت او ډیرو فلزي وسایل او لوښو لرونکي او وروسته د میلاد په لومړي پیړۍ کې یې د ډیرو هلو ځلو په پایله کې دومره پرمختګ کړی دی چې خپلې تولې اړتیاوې یې په خپله پوره کړي او په ښه دول یې خپل صنعت ته وده ورکړې ده او د زره په مینه یې پاللي او راتلونکونه یې خپې تجربې پریښودي دي او په بیلابیلو ځانګو کې کلالي،ترکاڼي ،زرګري ،اهنګري د قالینې ،غر،لیمځې ،شړۍ او د نورو اوبدل،پوستین ګنډل ،ځامک دوزي او داسې نورو کې یې د ستاینې ور پرمختګونه کړي دي.

په افغانستان کې دلومړي ځل لپاره د امیر دوست محمد خان په وخت کې له ماشیني صنعت څخه کار واخیستل شو. دا هغه وخت و چې افغانانو دوهمه جګړه له انګریزانو سره پای ته رسولې وه او په کابل کې د وسلو جوړولو یوه لومړنۍ فابریکه جوړه کړې وه چې له افغانانو پرته هندي او ایراني کاریوهانو هم پکې کار کاو. تر امیر دوست محمد خان وروسته د امیرشیرعلي خان په واکمنۍ کې د توپک جوړلو تر څنګ د یوشمیر توپونو جوړل هم پیل شول او تر دې پرته د چاپ ماشین هم کابل ته راوړل شو چې دشمس النهار اخبار او یو شمیر کتابونه ،پوستي تکټونه او دولتي فرمانونه به یې چاپول.خو دا هر څه د انګریزانو له دوهمې یلا جګړې سره دیرزیانمن او له ځنډ سره مخامخ شول.

کله چې ۱۸۸۰میلادي کې عبدالرحمان خان واک ته ورسید،د لرغونو ماشینونو تر فعالولو پرته یې په کابل کې د علم ګنج په نوم ماشین خانه جوړه کړه چې عسکري وسایل به یې پکې جوړول او له دې پرته یې سل لوی او واړه ماشینونه درلودل چې د چاپ،صابون جوړونې،شمع جوړونې او نورې چارې به په سرته رسیدلې، چې تقریبا ۶۰۰ تنه فلزات په صنعتي محصولاتو بدلیدل او ۵۰۰۰۰ تنو په کې کار کاو.

دامیر حبیب الله خان په دوره کې ماشیني صنعت لاپسې وده وکړه په ۱۹۰۶



میلادي کال کې دخرمنو او بوټانو فابریکه فعاله شوه او د ورینو منسوجاتو فابریکې هم په کار پیل وکړ.د جبل السراج د بریښنا د فابریکې بنسټ هم کیښوول شو دا وخت د صنعتي کارکوونکو شمیر د ۵۰۰۰۰ تنو په شاوخوا کې و.کله چې غازي امیرامان الله خان د هیواد د خپلواکۍ اعلان وکړ د تولنیزو،سیاسي،فرهنګي او اقتصادي چارو تر څنګ یې د صنعت پیاوړتیاته هم ډیره مخه وکړه.د ده په واکمنۍ کې دبریښنادتولید،مطبعو،دسمنتو صنعت ،بورې،ګوګرو،کاغذ جوړولو،شیشې جوړولو،غوړایستلو ،دمیوود کنسروا کولو او نور ماشینونه واخیستل او هیواد ته راوړل شول.

خو کله چې امیر حبیب الله خان د سقاوو زوي لهه میاشتې د اروډور دوره جوړه کړه دا هر څه په تپه ودریدل او تول صنعتي کارونه پر ځای ولاړ ول ترهغه وروسته چې اعلیحضرت محمد نادر خان واک ته ورسید، نوموړي وکړای شول په هیواد کې یو ځواکمن حکومت جوړ کړي تولې هغه صنعتي دستګاوې چې له فعالیته پاتې وې بیرته فعالې کړې او یو شه نوي ماشینونه یې هم هیواد ته را وارد کړل لود صابون جوړلو د فابریکې بنسټ یې هم کیښود،د موټر د ترمیم فابریکه هم رامنځته شوه،د ترکاڼۍ فابریکه یې هم رامنځته کړه او همدارنګه په جبل السراج کې د توکر فابریکې هم په کار پیل وکړ. وروسته بیا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او شهید سردار محمدداود خان د واکمنیو په مهال کې د هیواد صنعتي کیدو ته ډیره پاملرنه وشوه او له بیلابیلو هیوادونو څخه سپک او درانه ماشینونه هیواد ته راوړل شول چې د هیواد په پلازمینه او ولایتونو کې یې فعالیت پیل کړ. په کال ۱۳۵۲ هـ ش کې د هند په یې بداله مرستې د کابل د خرخې پله په سیمه کې صنعتي پارکونوپروژه فعاله شوه چې له خصوصي متشبثینو سره یې ډیره مرسته وکړه. له ۱۳۱۲-۱۳۵۲ هـ ش پورې دهیوادپه دولتي سکتور برسیره ملي پانګوالو ته هم د صنعتي فعالیتونو اجازه ورکړل شوه چې یو شمیر شرکتونو له بهر څخه سپک او درانه ماشینونه هیواد ته راوړل او په کار یې پیل وکړ چې د دغو خصوصي پروژو شمیر درې سوه ۳۰۰ ته رسید چې په دې دله کې د غالۍ جوړولو، وچلونې (خشکه شویی) ،تشناب کاغذ،کارتن جوړولو ،کشمش پاکۍ،اوبدلو ،یخ جوړولو ،نجارۍ، ،بوټ جوړولو او یو شمیر نورې فابریکې شاملې وې.خو کله چې په ۱۳۵۷ هـ ش کې د ثور د میاشتې په اوومه د یوې کودتا په تر غ کې د افغانستان سیاسي بدل شو په پیل کې یې د یو شمیر کمونستي هیوادنو له لورې یو شمیر ماشینونه را وارد شول تر یو وخته یې کار هم وکړ خو وروسته یو شمیر پانګوالو د زنداني کیدو او وژلو له امله په تولو چارو کې بدلون رامنځته شو. کدوالي پیل شوه. مقاومت داوم وموند. د هیواد په ولایتونوکې په صنعتي تولیداتو کې د کمیت

او کیفیت له لحاظه ډیر کمښت رامنځته شو خوله دې تولو ستونزو سره سره تر ۱۳۷۱هـ ش پورې په هیواد کې (۵۷۴)صنعتي او تولیدي موسسو شتون درلود چې په دغو موسسو کې د بریښنا د انرژۍ ۴۱،د ډبروسکرو ۱۰،نفت او ګاز ۳،کیمیاوي صنایع ۷۳،ساختماني صنایع ۱۸،د ماشین جوړولو او فلز کاری صنایع ۵۰ د درملو د تولید صنایع ۳،د چاپ او خپروني صنایع ۲۶،د نجاری او کاغذ جوړولو صنایع ۱۶،خفیفه صنایع ۱۴۱،د ارتزاقي موادو صنایع ۱۲۴او نورې ۶۹موسسې شاملې وې.



له کال ۱۳۷۱ هـ ش څخه وروسته په هیواد کې د واک پر سر جګړې پیل شوې او دا پورتنۍ تولې موسسې زیاتره وسوزېدې ،ماشین الات یې غلا شول تر هغه چې طالبان واک ته ورسیدل. هغوی هم پانګوالې ته زړه نه بښه کاو څو بیا هم بو شمېر صنعتي کارونه وشول،په هیواد کې د موقتې اداري په رامنځته کیدو سره دصنعت په برخه کې هم ځینې پرمختګونه رامنځته شول. په کال ۱۳۹۰هـ ش کې د هیواد په داخلي ناخالص تولید کې دصنعت د سکتور ونډه ۲۱،۳٪ سلمه وه،او په کال ۱۳۸۸هـ ش کې د صنعت د سکتور د داخلي تولید تولیز ارزښت ۸۹۹۱میلونه افغانی،په ۱۳۸۹هـ ش کې۸۹۴۹میلونه افغانی او په کال ۱۳۹۰هـ ش ۱۰۵۶۳میلونه افغانی وه. اوس مهال په افغانستان کې ۲۸۸صنعتي موسیسې د صنعتي توکو د تولید په برخه کې فعالیتونه تر سره کوي چې ۲۲۰۰۰هیوادوال په کې کار کوي اود هیواد مهم صنعتي توکي عبارت دي له :کیمیاوي سرې،سمنټ،دارو،مالګه،کاغذتشناب،بوره،غوښه،سابونه،غیري الکولي مشروبات او نور،همدرانګه له ډېرو لرغونوزمانو راهیسې زمونږ هیوادوال هم د لاسي صنایعو په جوړښت کې رول لري او ځینې تر اوسه لا هم دلاسي شیانو پر جوړښت اخته دي .له ډېر پخوا راهیسې زمونږ په هیواد کې لاسي غالۍ، لیمڅې، نغرۍ، کنې، لاس ماڼوان، جرابې... او نور شیان اوبدل کیږي .

همدغسې په هیواد کې کندهارۍ غاړې، غاړکۍ، ګوټې، لاس بندونه، ملاوستنې، بګړۍ... او نورتوکي اوبدل کیږي .په ځینو ځایونوکې له لرګیونه ډېر توکي لکه کرڅۍ(خمڅۍ)، مېزونه، ښاخې، راشیلونه، صندلۍ، الماري، کاسې، دروازې جوړیږي .په هیوادکې له کانو او ډېرو نه هم ډېر ارزن توکي لکه بغرۍ، مېچنې او نور وسایل جوړېدل چې اوس ځینې توکي په انتیکو توکیو بدل شویدي .یو مهال ډېرو وګړیو له دغو توکو ډېره ګټه پورته کوله او ټول ژوند یې په همدغو توکو مخته روان و اوس هم ځینې هیوادوال ترې ګټه پورته کوي

# کورنۍ سوداګري

کورنۍ سوداګري داقتصادي کړنو ستره برخه جوړوي چې له پخوا څخه تر ډېره بریده په خصوصي سکتور پورې اړه لري. کورنۍ سوداګري د اقتصادي کړنو په پراخوالي کې ،د کار په پیدا کولو کې،د ژوند سطحې د لوړوالي او د هیوادونو په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري. کورنۍ سوداګري نه یوازې ښارونه له یو بل سره تړلي بلکې ښارونه له کلیو سره او خلکو ته له یو بل سره پیوند ورکوي. ټولنیزې ،فرهنګي ،اقتصادي او سیاسي اړیکې د بیلابیلو قومونو او قبایلو تر منځ پراخوي له بلې خوا کورنۍ سوداګري په غیرې مستقیم ډول زرګونه انسانانو ته ګټه رسوي. نه یوازې سوداګرو ته بلکې نور افراد لکه هتۍ وال ،د ټرانسپورټي وسیلو مالکانو ،هوټلونه هم له کورنۍ سوداګرۍ څخه ګټه لاسته راوړي.وارډ سوداګر سوداګریز توکي له کلیو او بانډو څخه کوچنیو ښارونو ته او څینې وخت لویو ښارونو ته لیږدوي. د هیواد زیات سوداګر د اړتیا ور سوداګریز توکي د هیواد له لویو ښارونو څخه کوچنیو ښارونو ته، ولسوالیو ته او د هیواد لیرې پرتو کلیو ته لیږدوي چې سوداګریزو کړنو څخه ګټه پورته کوي. دغه سوداګر اومه مواد،میوې،لاسي مصنوعات او څاروي ښارونو ته عرضه کوي او په بدل کې مصرفي سوداګریز توکي اړوندو سیمو ته لیږدوي.

کورنۍ سوداګري هغې سوداګرۍ ته ویل کیږي چې د یو هیواد د وګړو ترمنځ تر سره کیږي.د بیلګې په توګه د لغمان او زابل د ولایتونو د وګړو تر منځ د توکو او چوپړتیاو تبادلې ته کورنۍ سوداګري ویل کیږي.کورنۍ سوداګري لاندې ځانګړتیاوې لري:

- کورنۍ سوداګري د هیوادونو تر بازارونو محدوده وي.
- په دې سوداګرۍ کې راکړه ورکړه په کورنیو پیسو کیږي.
- په ټولیز ډول دغه سوداګري په داخلي توکو راځرخي خو کله کله بهرني توکي هم رانغاړي.
- د هیواد ټولوسوداګرو ته یو رنګه اسانتیاوې د حکومت له خوا برابریږي.
- په کورنۍ سوداګرۍ کې حکومت ډیره لاسوهنه نکوي،خلک په سوداګرۍ کې خپلواک وي.

د کورني سوداګرۍ ډولونه

a. ټول پلوري: Whole sale Trade

په لومړیو وختونو کې توکي په لږ پیمانه تولیدیدل. کمپنیو په خپله توکي مصرفوونکو ته ورکول چې د هغوی ترمنځ استازي شتون نه درلود. لیکن د وخت په تیریدو سره دصنعت په برخه کې پرمختګ رامنځته شو، چې ورسره د توکو د تولید په برخه کې هم زیاتوالي راغی چې اوس نو کمپنیو نشوکولای مستقیما توکي مصرفوونکو ته ورسوي. نو له همدې کبله کمپنۍ توکي په ډیره پیمانه پر ټول پلورونکو، پلوري تر څو هغوي یې پر ټوک پلورونکو، وپلوري او مصرفوونکو ته یې ورسوي. ټول پلوري د کورنۍ سوداګرۍ هغه ډول دی چې توکي په لویه پیمانه له کمپنیو پیري او په کوچنۍ پیمانه یې په ټوک پلور، پلوري. د ټول پلورۍ لپاره باید داسې ځای وټاکل شي ترڅو توکي په اسانۍ له کمپنۍ تر لاسه او په اسانۍ یې ټوک پلورو، ته ورکړي. ټول پلوري دې ته اړنه دی چې د ټوک پلوري په څېر د ښار یا بازار په منځ کې ځای ونیسي.د ټول پلوري ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

- په ټول پلورۍ کې توکي په ډیره پیمانه له کمپنیو اخیستل کیږي او د اړتیا له مخې په ټوک پلورو پلورل کیږي.

- ټول پلوري په عمومي ډول یو ډول توکي پیري او پلوري یې چې کیدای شي بیا دغه توکي نور ډولونه ولري. لکه دارو چې دارو بیا خپل ډولونه لري.
- ټول پلوري په عمومي ډول ځایونه په لویو لویو سوداګریزو مرکزونو کې جوړوي.
- ټول پلوري د توکو له پیر څخه وراندې کمپنیو ته پیسې ورکوي.
- په ټول پلورۍ کې توکي معلوم قیمت لري چې د پیر په وخت کې د قیمت جګ والي او ټیټ والي غوښتنه د وخت ضایع کول دي .
- له ټول پلوري سره مالي وسایل ډیر وي نو ځکه توکي په ډیره پیمانه پیري.

b. ټوک پلوري: Retail Trade

د کورنۍ سوداګرۍ په دې ډول کې توکي په کوچنۍ پیمانه پیرودل او پلورل کیږي.ټوک پلوري توکي له ټول پلورو څخه دخلکو د اړتیا له مخې پیري او مصرفوونکو ته یې رسوي چې د ټول پلورو او مصرفوونکي ترمنځ اړیکه ټینګوي. ټوک پلوري لاندې ځانګرتیاوې لري:

- .ټوک پلوري له مصرفوونکو سره مخامخ په اړیکه کې وي.
- .ټوک پلوري د توکو بیلابیل ډولونه پلوري، چې له هر توکي څخه ورسره په لږ پیمانه شتون لري.
- .ټوک پلوري عموما خپل مرکز د عامو خلکو د اوسیدو سره نژدې جوړوي.
- د ټوک پلورو ټول کاروبار په نغده ډول وي.
- یو ټوک پلورونکی باید له ښو اخلاقو کار واخلي. ځکه ټوک پلورنکی له مشتریان سره مخامخ په اړیکه کې وي.

محمد داود نیازي

# سیستم ترانزیت تیر

## تعریف و ساختار سیستم تیر

طبق تعریف کمیسیون اقتصادی اروپائی سازمان ملل یا United Nation Economic Commission For Europe Unece واژه TIR مخفف Transport International Road به معنای یعنی حمل ونقل بین المللی جاده ای میباشد

## ۱

۱ اهداف وفواید سیستم تیر

درسیستم تیر ، این امکان دیده شده که کالا تحت پوشش دفترچه تیر(کارنه تیر) از طریق جاده حمل و بدون ارایه تضمینات اضافی نزد گمرکات بین راهی از یک گمرک خانه درمبدأ تا یک گمرک خانه مقصد ادامه یابد.

## ۲

۲ امکانات بهتر برای حمل ونقل و تجارت

- کاهش هزینه های جاده ای و همینطور کاهش تاخیر درعملیات سیستم ترانزیت تیر.
- امکانات حرکت کالا طبق روش های یک شکل و استاندارد شده در کنترل و نظارت.
- کنترل ونظارت گمرکی مشابه تحت مفاد کنوانسیون تیر
- ارتقا و توسعه حمل ونقل بین المللی جاده ای وهمینطورتجارت بین الملل

## ۳

۳ برای صنعت حمل ونقل

- کالا با حداقل دخالت مقامات ذیصلاح درمرزها عبورمی کند.
- کاهش درتاخیر و هزینه ترانزیت کالا
- اسناد ساده و استاندارد شده
- نیاز به ارائه تضمینات گمرکی درمرزهای ورودی

## ۴

۴ برای گمرک

- حقوق وعوارض گمرکی تا سقف ۵۰۰۰۰دلار درسیستم تیر تضمین شده.
- فقط شرکت های حمل ونقل واجد شرایط مجاز به استفاده از سیستم تیرمی باشد که این کار سبب افزایش امنیت سیستم می شود.
- نیاز کنترل فیزیکی کالا در مسیر ترانزیت کاهش می یابد.
- ارائه امکانات بهتر جهت کنترل اسناد ومدارک توسط گمرک.

۲ کنوانسیون تیر

کنوانسیون تیر یک کنوانسیون گمرکی و زیرنظارت کمیسیون اقتصادی اروپائی سازمان ملل تدوین و مورد بازنگری قرار می گیرد.

درابتدا دو کنوانسیون جاده ای اجرا می شد، یکی مربوط به کامیونهای حرفه ای و دیگری مربوط به محفظه بار.این دو کنوانسیون بصورت مکمل در ۱۶ژوئن ۱۹۴۹ به اجرا گذاشته شد.

